٦٠٥

هفته نامه

بجز اصلاح اراده دیگری ندارم سوره هود ۸۸

اصلاح ملی

سیاسي، ټولنیزه او فرهنګي اوونیزه

۴۶مه ګڼه ۱۳۹۴المریز کال د حوت۸مه د ۱۴۳۷ هـ ق جمادي الاولی۱۸مه د ۲۰۱۶ ل د فبروري۲۷مه

وحشتی که از "جنگ"

نشأت می کند!

جمعیت اصلاح افغانستان

واقعیتونه، غلطې انګېرنې او ناروا تورونه

رهبری جدید

شورای عالی صلح؛

روزنه جدید در راستای تحقق صلح!

روش تعامل با نیازمندان

اخلاق برخی از مردم تجاری است؛ زیرا در نظرشان فقط ثروتمندان‌اند که سخنان و نکته‌های ظریف را می‌دانند و مردم به هنگام شنیدن آن شاد می‌شوند و اشتباهات‌شان کوچک است و مردم از آن چشم می‌پوشند.

اما فقرا و تهیدستان به هنگام بیان سخنان نغز و نکته‌های ظریف، سنگین، بی‌مزه‌اند. مردم هنگام شنیدن سخنان آنان، آن‌ها را به باد تمسخر می‌گیرند و اشتباهات‌شان را بزرگ می‌پندارند، و به هنگام سخنان این قشر، تحمل را از دست داده و فریاد می‌زنند.

اما رسول خدا ﷺ بر غنی و فقیر به طور یکسان مهربان بود. انس ﷺ می‌گوید: شخصی بیابان‌نشین به نام زاهر بن حرام بود که بسا اوقات وقتی از بیابان می‌آمد، چیزهایی از قبیل پنیر و روغن برای رسول خدا ﷺ هدیه می‌آورد.

هرگاه می‌خواست نزد اهلش برگردد، رسول خدا ﷺ چیزی از قبیل خرمای خشک و غیره برایش مهیا می‌کرد. رسول خدا ﷺ او را دوست می‌داشت و می‌گفت: «زاهر از دوستان بیابان ماست و ما از دوستان شهرنشین او هستیم» و زاهر شخصی بدقیافه و زشت چهره بود.

روزی از بیابان بیرون آمد و به خانه‌ی رسول خدا ﷺ آمد و او را نیافت برخی از کالا و وسایل به همراه داشت، آن‌ها را به بازار برد وقتی رسول خدا ﷺ از وی آگاهی یافت به دنبال او به بازار رفت، زاهر را در حالی یافت که مشغول فروش اسباب و کالاهایش بود و عرق از جبینش می‌چکید و لباس‌هایش همان لباس‌های بیابان با شکل و بوی بیابانی بودند. در این هنگام رسول خدا ﷺ از پشت او را بغل نمود به طوری که زاهر او را ندید و نمی‌دانست که چه کسی او را در بغل گرفته است، زاهر آشفته شد و گفت: رهایم کن. تو کیستی؟ رسول خدا ﷺ خاموش شد و چیزی نگفت! زاهر می‌کوشید تا خود را از دست رسول خدا ﷺ برهاند و به پشت سر خودش نگاه می‌کرد. وقتی رسول خدا ﷺ را دید، آرام گشت و آشفتگی‌اش برطرف گردید و وقتی آنحضرت ﷺ را شناخت شروع به مالیدن پشتش به سینه آنحضرت نمود. رسول خدا نیز از باب شوخی صدا می‌زد: «چه کسی خریدار برده است؟ چه کسی برده می‌خرد؟» زاهر به وضع خودش نگاه کرد دید یک انسان نادار، فقیر، شکسته‌حال و بی‌رنگ و روست. گفت: به خدا سوگند! ای رسول خدا ﷺ تو در معامله‌ات مغبون و زیانبار می‌شوی.

رسول خدا ﷺ گفت: اما تو در نزد خداوند بی‌ارزش نیستی، بلکه تو نزد خداوند باارزش و قیمتی هستی.

پس جای شگفتی نیست که دل‌های نیازمندان به آنحضرت ﷺ پیوسته و معلق باشد و با این اخلاق، مالک قلب‌هایشان باشد.

بسیاری از فقرا از ثروتمندان به خاطر بخل در مال و طعام، ایراد نمی‌گیرند، بلکه از این جهت ناراحت هستند که آنان در لطف و محبت و حسن معاشرت بخل می‌ورزند. تو چه‌قدر به روی یک نیازمند تبسم و لبخند زده‌ای و با او به دیده ارزش و احترام نگریسته و رفتار کرده‌ای و در نتیجه او در تاریکی شب دست به دعا برآورده و به وسیله آن رحمت‌ها را از آسمان برایت جلب نموده است، چه‌قدر فراوانند انسان‌های پراکنده‌مو و غبارآلود و ژنده‌پوشی که بر دروازه‌های شهر افتاده‌اند و به آن‌ها توجه نمی‌شود، ولی اگر همین افراد به خداوند در باره کاری که هنوز انجام نشده سوگند یاد کنند، خداوند قسم‌شان را راست نموده و مطابق قسم آنان عمل می‌کند و نزد او مستجاب الدعوات هستند. پس با این ضعیفان همواره خنده‌رو باش.

اشاره... «بی‌تردید لبخند تو به روی فقرا و نیازمندان، درجات تو را در نزد خداوند بالا می‌برد».

از کتاب (از زندگی‌ات لذت ببر) نوشته دکتور محمد بن عبدالرحمن العریفی

اصلاح ملی را از اینجا بدست آورید

کابل: تایمنی، چهار راهی حاجی محمد داد، سرک ۴، دفتر مرکزی جمعیت اصلاح. تیلفون: ۰۷۸۱۵۴۴۱۱۵

کابل: کوته سنگی، سرک سیلو، بلاک های شاداب ظفر، انتشارات اصلاح افکار: موبایل: ۰۷۷۸۱۹۱۳۸۲

کابل: شهر نو، چهار راهی انصاری، کتاب فروشی رسالت. ۰۲۰۲۲۰۳۳۵۹

کابل: انتشارات مستقبل مقابل بلاک های شاداب ظفر،

کابل: کمپیوتر فروشی الکاموي جاده نادر پشتون، مارکیت الله نظر منزل ۲ دوکان ۲۳/ . ۰۷۹۹۳۹۰۸۱۹

کابل: کابل ده افغانان کتاب فروشی بیهقی

کابل: انتشارات بنیاد علمی و فرهنگی مسجد جامع پل خشتی ۰۷۹۹۰۱۱۱۱۱ / ۰۷۵۲۲۲۲۲۲۲

ننگرهار: جلال آباد، نارنج باغ، عبدالحق مېنه، (دکابل د موټرو اډه) د جمعیت اصلاح ساحوي دفتر ټیلیفون: ۰۷۰۰۶۳۲۴۸۰

جلال اباد- اسحاقزی مارکیټ، لاندې منزل، اصلاح افکار تلیفون: ۰۷۹۳۷۷۸۸۸۱

کندهار: نوی ښار، د هرات سرک، د سرې جامع غرب طرف ته سوري مېنه د امام ابوحنیفه رح تعلیمي او کلتوري مرکز د جمعیت اصلاح ساحوي دفتر تلیفون: ۰۷۰۵۲۳۰۵۸۳

لغمان: مهترلام ښار، حمزه مارکیټ تیلفون: ۰۷۷۵۶۷۶۰۹۹

هرات: سرک باغ آزادی، ابتدای جاده محبس ابن سینا انجمن اخلاق و معرفت شماره های تماس: ۰۴۰۲۳۷۰۱۲ - ۰۷۸۹۰۰۸۱۵۲

بلخ: عقب حمام سره میاشت، مرکز تعلیمی اصلاح ۰۷۸۸۸۰۴۰۵۵

کندز: شهر کندز، جاده ولایت، کوچه حاجی میری، مؤسسه تحصیلات عالی سلام ۰۷۸۷۷۰۳۷۲٤

بغلان: پلخمری، مارکیت اتفاق کتاب و قرطاسیه فروشی رسالت ۰۷۰۰۵۸۹۸۵۷ / ۰۷۷۷٤۷٦٤٦۹

لوگر: مرکز، مدینه مارکیت سرک مسجد جامع، کتاب فروشی سادات، سید عبدالحمید هاشمی، تیلفون: ۰۷۰۰۴۴۹۸۱

لوگر: محمدآغه، واغجان بازار، پهلوی کلنیک حسین خیل، تیلفون: ۰۷۷۵۴۱۳۸۷۶

پکتیا: د گردیز ښار، مرکزي چوک، د نې نمایندگۍ وحید الله: ۰۷۷۹۲۱۳۸۲۲

خوست: افغان تاور شاته خوست مرکزي طبي لابراتوار دوهم پوړ د جمعیت اصلاح ساحوي دفتر د اکتر محمد گلاب: ۰۷۹۹۱۷۴۵۴۶ / ۰۷۷۷۱۷۴۵۴۶

تخار: بازارچه کتاب دکان مولوی حبیب الرحمن ۰۷۷۹۶۳۴۱۹۲

بدخشان فیض آباد: ۰۷۷۵۲۷۰۵۰۸ / ۰۷۰۷۸۳۱۳۶۴

زابل: قلات، عمومي جاده، د نجارانو کوڅه د غوثي رهنمای معاملات ترخنگ، شمپره: ۰۷۰۶۵۲۷۱۸۶--۰۷۷۳۵۸۰۲۰۹

فراه: ناحیه سوم، مقابل مسجد جامع قاضی، مرکز علمی و فرهنگی توحید شماره تماس: ۰۷۹۹۸۴۳۶۱۱

نیمروز: سرک ولایت، نا رسیده به قوماندانی امنیه، مرکز علوم قرآنی اعجاز، سید امیر قریشي: ۰۷۹۶۳۰۹۱٤۰

قیمت یک شماره ۱۰ افغانی

د ولسمشریزو ټاکنو د ناندریو پر ځای د هېواد ستونزو ته پام وکړئ!

د ټول ټاکنو په تاریخ کې د لومړي ځل لپاره، د افغانستان د ټاکنو خپلواک کمېسیون، د ملي یووالي حکومت له لوړې څخه، د شا او خوا یو نیم کال تر تېرېدو وروسته د تېر ۱۳۹۳ لمریز کال دویم پړاو ټاکنو پایلې اعلان کړې.

دا په داسې حال کې ده چې د امریکا د بهرنیو چارو د وزیر جان کېري په منځګړتوب د ملي یووالي حکومت له تېر یو نیم کال راهېسې د هېواد واګې په لاس کې لري چې د ولسمشریزو ټاکنو د دوو تر ټولو وړاندې نوماندانو له لوري جوړ شوی دی. نو پوښتنه داده چې تر دومره مودې وروسته د ټاکنو خپلواک کمېسیون د تفصیلي رایو شمېره په داسې ترینګلي وخت کې ولې او د کومو موخو لپاره اعلانوي؟

د ملي وحدت د حکومت تر را منځته کېدو وروسته، هېواد او هېوادوال له بې شمېره ستونزه سره مخ دي او پر امنیتي ستونزو سربېره د کار نشتوالی، اداري فساد او زرګونه نورې ستونزې دلته شتون لري، په داسې وخت کې د ټاکنو خپلواک کمېسیون د ناندریو لپاره یوه بله ستونزه رامخ ته کوي او شاید په دې توګه د ملي وحدت حکومت په دننه کې هم شته جنجالونه لا زیات کړي.

ځینې په دې باور دي چې ولسمشر غواړي په دې سره د اجرائیه ریاست شتون تر پوښتنې لاندې راولي، ترڅو په نږدې راتلونکې کې دا پوست غیر قانوني اعلان کړي او ډاکټر عبدالله عبدالله بېرته له دې دندې ګوښه کړي، چې شنونکي د امریکا د ملي استخباراتو د مشر جیمز کلیپر له خوا د افغان حکومت د سیاسي سقوط خبره هم په همدې تعبیروي چې په روان میلادي کال کې به د ملي وحدت حکومت په نامه د جان کیري وثیقه ختمه شي او کیدای شي چې ولسمشر په یوازې د حکومت واګې په لاس کې واخلي.

په دې کې شک نه شته چې د شته ستونزو په شتون کې هېواد د نورو ستونزو د مقابلې توان نه لري او حکومت د دې پرځای چې د هېواد اساسي ستونزو ته پام وکړي، دواړه مشران له یونیم کال وروسته هم د دندو پر ویش او د حقونو پر غوښتلو سره نه دي سلا شوي او لا تر اوسه هم د چارواکو د ټاکلو او ګوښه کولو پروسه پای ته نه ده رسېدلې او ځینې اداري خو لا تراوسه هم د سرپرستانو تر ولکې لاندې دي.

بل خوا له اوږدې مودې وروسته، په دې ورځو کې د سولې عالي شورا ته مشر په ګوته شو او کیدای شي دا اداره د سولې په اړه په یوه نوي فکر او اخلاص سره هڅې پیل کړي، دا یو ښه او غوره ګام ؤ، او حکومت ته هم په کار دي چې تر هر څه وړاندې همدې ستونزې ته پام وکړي، نه دا چې په خپلو کې شته اعتماد هم له مینځه یوسي، چې که داسې وشي، نو څرګنده نده چې حکومت به بیا له مخالفینو سره سوله په کومو بیناونو کوي؟

بلخوا د ټاکنو د خپلواک کمېسیون مشر چې په وینا یې دا یې یوه ملي دنده وه چې باید په امانت داری سره د ولسمشرۍ د ټاکنو د رایو شمېرې اعلان کړي، باید په دې کار سره قضایي ارګانونو ته معرفي شي، چې یو نیم کال وروسته ولې دا پایلې اعلانوي او که ریښتیا سره ملي منافعو ته ژمن وي، نو بیا یې هماغه مهال ولې دا تفصیلي پایلې اعلان نه کړې؟

له دې ټولو داسې معلومېږي چې د پردې تر شاه بله لوبه روانه ده او یاهم د ټاکنو د قانون د ځینو مادو د تعدیل په تړاو د ولسمشر د تقنیني فرمان په غبرګون کې د ټاکنو د خپلواک کمېسیون مشر دا کار کړی وي.

په هرصورت، حکومت او اړوندو ادارو ته په کار دي چې په دې حساسه مرحله کې د هېواد او هېوادوالو د اساسي ستونزو د حل لپاره هڅې وکړي، د دې پرځای چې لا هم په هغه داخلي ناندریو کې چې دوی پرې اخته دي، ولس هم اخته کړي، او شته ناخوالې نورې هم زیاتې کړي.

جمعیت اصلاح افغانستان

بخش فرهنگی و نشرات

هفته نامه اصلاح اونیزه

دلسلام داصیل فهم منبر

Email:eslahmilli@gmail.com

رئیس هیأت تحریر:

احمد ضیاء رحیمزی

مدیر مسؤول

محمد شعیب قریشي

اعضاء هیأت تحریر:

نقیب الله حمید
عبدالفتاح جواد
محمد اکبر مؤحد
وحید الله مصلح
عزیز احمد حنیف

شماره مسئول توزیع: 0744157052

همکاری نقدی تان را به ما بفرستید

آدرس بانکی: جمعیت اصلاح وانکشاف اجتماعی افغانستان کابل بانک
A/c No=1001202080036
(افغانی)

آدرس بانکی: جمعیت اصلاح وانکشاف اجتماعی افغانستان کابل بانک
A/c No=1001201080036
دالر امریکائی

رهبری جدید شورای عالی صلح؛ روزنه جدید در راستای تحقق صلح!

نصیر احمد نویدی - رئیس شورای مرکزی جمعیت اصلاح

پس از انتظارطولانی بالآخره هیئت رهبری جدید شورای عالی صلح از طرف حکومت وحدت ملی اعلان گردید. خوشبختانه مسؤولیت این شورا به شخصیت اجتماعی افغانستان ورهبر جهادی سابق جناب پیرسید احمد گیلانی سپرده شده است، که درمیان موافقین و مخالفین حکومت از اعتبار و جایگاهی خاص برخوردار است. همچنان در جمع معاونان و بقیه اعضای هیئت رهبری، شخصیت هایی حضور دارند، که اگر برایشان فرصت داده شود، می توانند آرزوی دست یافتن به صلح و امنیت را (که خواست هرهموطن ما می باشد) درعالم واقعی متحقق سازند. پست های کلیدی شورای عالی صلح در زمان مناسبی اعلان گردیده است، زیرا مذاکرات چهار جانبهء صلح به مرحلهء حساسی وارد شده و اخیرا فیصله بعمل آمده تا در نشست آینده گفتگوهای رو در رو میان نمایندگان حکومت و نمایندگان طالبان صورت گیرد.

جمعیت اصلاح افغانستان که باور دارد خاتمهء جنگ داخلی و تحقق صلح از اولویتهای مبرم جامعه در مرحله فعلی می باشد، از تعین جناب پیرسید احمد گیلانی بعنوان رئیس شورای عالی صلح افغانستان حمایت و پشتیبانی نموده، همکاری بدون قید وشرط خویشرا در راستای رسیدن به صلح و تحقق مصالحهء ملی با این شوراء اعلان می دارد. رئیس محترم شورای عالی صلح و همکارانش باید بدانند که ایشان وظیفهء خطیری به عهده دارند، قطع جنگ و خاتمه دان به دشمنی میان افغانها و ایجاد فضای اخوت، همکاری وهمزیستی در کشور، کار ساده ای نیست و موانع زیادی در برابر آن قرار دارد که آرزومندیم رهبری شورای عالی صلح با درایت آنها را از سر راه خویش بردارند.

اولین مانع در راه صلح عدم وجود ارادهء واقعی ونبود اجماع بخاطرتحقق صلح در کشور است، زیرا که متأسفانه هنوز هم مصلحت ها و منافع بعضی اشخاص و جهات به جنگ وابسته است و همینها اند که باعث دوامدار شدن جنگ در کشور می شوند. از این رو، رهبریت شورای عالی صلح اولاً باید خود به داعیهء صلح از صدق دل معتقد بوده و به آن باور داشته باشند و دوم اینکه اطراف دیگر را به داعیهء صلح-بعنوان یگانه راه نجات افغانستان از تمام بدبختیهای موجود- قانع ومتقاعد سازند.

مانع دوم در این راه، مداخلهء جهات و افراد جنگ طلب در داخل و بیرون حکومت در پروسهء صلح بخاطر ناکام سازی و سبوتاژ کردن این روند می باشد، چنانچه رئیس جمهور محمد اشرف غنی در مراسم اعلان اسمای رهبری جدید شورای عالی صلح اعلان داشتند، این شوراء باید مستقلانه عمل نموده در این رابطه منتظر دیکته و قوماندهء کس دیگری نباشند، بخصوص آنانیکه هنوز هم باورمند به جنگ استند و یا هم بقای شانرا در استمرار جنگ و وجود تفرقه و اختلاف در میان ملت می بینند. رهبری محترم شورای عالی صلح باید تسلیم تهدید ها و تطمیع های کسی نشود و بدانند که صلح داعیهء بزرگی است که بدون دادن قربانی دست یافتن به آن ناممکن می باشد.

مانع سوم در راه صلح، نبود اعتماد و بی باوری بر همدیگر است، تنها حسن ظن در برابر طرف مقابل و صداقت در تعامل با آنهاست، که می تواند فضای اعتماد را بوجود آورد. افغانستان برلبهء سقوط قرار دارد و هر افغان با احساس این خطر را درک می کند و نمی خواهد که از این بیشتر کشور و مردم ما در اتش جنگ بسوزند. بناءً گفتگوهای بین الأفغانی از هر دو طرف باید صریح و بدور از دیپلماسی های نفاق گونه باشد. حکومت افغانستان و شورای عالی صلح که ابتکارعمل را در دست دارند، نباید به پیوستن تعدادی از مخالفین مسلح به حکومت دل خوش نمایند، در حالیکه مشکل جنگ کما کان بحال خودش باقی بماند، مردم از بی امنیتی و فقر نجات نیابند و جوانان کشورهمه روزه، در هر دو طرف جنگ کشته وزخمی گردند.

و بالآخره چهارمین مانع در این راه، نبود فضای همکاری میان جهات حکومتی و محورهای مردمی در راستای کامیاب سازی پروسهء صلح است. جنگ در این کشور ریشه دار است و جهات جنگ طلب قوی و منسجم می باشند، بناءً شورای عالی صلح نباید خود را از کمک های جهات صلح خواه در راستای برقراری صلح مستغنی احساس نماید. شریک ساختن تمام شخصیت های ملی و مطرح در پروسهء صلح و همکاری با مجامع و جریانات مستقلی که قبلاً با هدف تحقق صلح عرض وجود نموده اند، یکی از ضرورت های اساسی قیام صلح دائمی و عادلانه در کشور می باشد.

امیدواریم شورای عالی صلح تحت قیادت مدبرانهء جناب پیر سید احمد گیلانی، از این عقبات و موانع با دور اندیشی عبور نموده، صلح و مصالحهء ملی را که آرزوی دیرینهء مردم افغانستان است، به یاری الله متعال و همکاری ملت مؤمن و صلح دوست افغانستان متحقق سازند.

والله المستعان

(لومړۍ برخه)

جمعیت اصلاح افغانستان:
واقعیتونه، غلطې انګېرنې او ناروا تورونه

ډاکټرسید خالد راشد

جمعیت اصلاح یو ولسي تمدني خوځښت:

جمعیت اصلاح د ملت له منځ څخه د راټوکیدلي منظم ولسي- مدني خوځښت نوم دی. ددغه مدني حرکت په عقیده، اسلام د یو څو بې روحه او بې ساه کلتوري مراسمو نوم نه، بلکې د الله جل جلاله له لورې رالېږل شوې داسې یوه منظمه، بشپړه او هراړخیزه برنامه ده چې انسان ته د ژوند په هر ډګر او هره ګړۍ کې لارښوونه کوي، له همدې امله دا حرکت په دې پوره باوري دی چې د افغاني ټولنې د هوساینې، نېکمرغۍ، یووالي او پرمختګ یوازینۍ لاره په فردي او ټولنیز ژوند کې ددغه سپېڅلي نظام بشپړ پلي کول دي.

د جمعیت اصلاح له نظره د ولسونو او وګړو آزادي، پرمختګ او پرځان بسایینه په علم او پوهه کې نغښتې ده او ترهغو چې یو ملت پوهه ترلاسه نه کړي، نو نه رښتنیې آزادي تر لاسه کولای شي او نه هم پرمختیا او پرځان بسایینې ته رسیدلی شي. د همدې قناعت له مخې جمعیت اصلاح پوهنه، د ولس د پوهاوي د کچې لوړول او اخلاقي روزنه د خپل ستراتیژیک تګلوري موخې او لومړیتوبونه ګرځولي دي.

دا چې جمعیت اصلاح د الله تعالی په مرسته د هېواد په تاریخ کې د یو منظم ولسي- سوله‌ییز، علمي، تربیتي او تمدني کار لومړۍ کامیابه تجربه ده، نو ځکه خو یې په اړه په ټولنه کې په طبیعي ډول سره ډول ډول مثبتې او منفې انګېرنې کېږي. له یوه پلوه هغه خلک چې جمعیت اصلاح له نږدې پېژني، له غړو او افرادو سره یې ټولنیزه ناسته پاسته لري، غونډو او پروګرامونو کې یې برخه اخلي، د دې ټولنې لخوا چاپ شوي کتابونه، چاپي، الکترونیکي او ډلیزې رسنۍ یې وخت پروخت ګوري، اوري، لولي او د هېواد په بېلابېلو ژوندیو پېښو او قضایاو کې یې دریځونه له نظره تېروي ددغه ستر ولسي جریان په اړه یې نظر مثبت او راتلونکی یې د هېواد او ولس په خیر ګڼي خو له بل پلوه بیا هغه خلک چې یوازې ددغه حرکت له نوم سره اشنا دي، نه یې له نږدې تګ راتګ ورسره شته او نه یې هم په غونډو او پروګرامونو کې برخه اخیستې، نه یې رسنۍ لولي او نه یې هم د هېواد او ملي قضایاو په اړه ددغه ټولنې دریځ او موقف څخه ځان پوره خبر کړی په طبیعي ډول سره د دغه تمدني جریان په اړه په قضاوت کې تیروځي او غلطې انګېرنې کوي په ځانګړې ډول کله چې د هغه خلکو د تبلیغاتو او ناروا تورونو تراغېز لاندې راشي ځوک چې له دینپالنې وېره لري، چې نظریات او افکار لري، د ټولنې پرمختګ په سیکولرزم، بې دینۍ او لبرل ډېموکراسۍ کې ګڼي او د خپل ځانګړې طرز فکر له مخې د هر هغه حرکت سره متعصبانه تګلاره او افراطي تعامل کوي چې دین او دینی ارزښتونو ته وده ورکول غواړي.

هغه خلک چې د ناپوهۍ او یا تېروتنې له مخې ددغه ولسي- دیني او تمدني جریان په اړه غلطه انګېرنه کوي باید کم له کمه ددغه ټولنې د ارزونې په اړه د قرآنی حکم سره سم د عدل او انصاف لیار خپله کړي.، قرآن مؤمنانو ته حکم کوي چې د فاسق د خبر د راوړلو نه وروسته باید تحقیق او څېړنه وکړۍ هسې نه چې له څېړنې پرته دریځ نیونې له امله چاته زیان ورسوی او بیا پرخپلو کړو پښېمانه شی. نو ځکه دغه هېوادوال باید د جمعیت اصلاح په اړه د هر ډول قضاوت کولو څخه وړاندې ددغه حرکت فکر مطالعه کړي، پروګرامونه، اجنډاوې او لاس ته راوړنې یې له نږدې وګوري، د غړو سره یې مرکې وکړي، په خپلو ذهنونو کې راولاړې شوې پوښتنې په روښانه ډول او بشپړ جدیت سره ددغه حرکت د مشرتابه او غړو په وړاندې کېږدي او په دې ډول د هېواد د یو ستر واقعیت په اړه رښتنې او کره معلومات ترلاسه کړي. د مطالعې لاندې لیکنه کې هڅه شوې څو هغه پوښتنې چې د دغه حرکت مخالفین او یا ناقدین یې بیا بیا تکراروي په لنډ ډول سره د لوستونکو مخې ته کېښودل شي خو د مسئلې پرواقعیت پوه شي، سوء تفاهمات لرې شي، غلطې انګېرنې اصلاح شي او د حق او باطل په روانه جګړه کې د پروژوي مخالفینو د درواغژنو تبلیغاتو ښکارنه شي.

درېیمه ډله چې نظر لرونکي مخالفین او پردیپالې کړۍ دي چې د جمعیت اصلاح په اړه د هغوی دښمني یو طبیعي پدیده ده ځکه هغوی د جمعیت اصلاح د غړو نه، بلکې ددغه حرکت له فکر، رباني منهج، پروګرام او ارزښتونو سره دښمني لري. الله جل جلاله فرمایي: قَدْ نَعْلَمُ إِنَّهُ لَيَحْزُنُكَ الَّذِي يَقُولُونَ ۖ فَإِنَّهُمْ لَا يُكَذِّبُونَكَ وَلَٰكِنَّ الظَّالِمِينَ بِآيَاتِ اللَّهِ يَجْحَدُونَ (انعام، ۳۳)، ژباړه: یقیناً مونږ پوهېږو، هغه څه (تورونه) چې

دوی یې وایي تا ځوروي خو دا خلک (په اصل کې) تا دروغجن نه ګڼي بلکې دوی د الله د آیتونو څخه منکریږي . دوی په هېواد کې د اسلامي فکر، عقیدې او منهج سره د دښمنۍ له امله هڅه کوي د بهرنیو کړیو د مالي او استخباراتي مرستو په مټ د یو منظم پلان له مخې په بېلابېلو ناروا تورونو او درواغژنو تبلیغاتو سره د هېواد او هېوادوالو په منځ کې د اسلامي حرکت اعتبار راکم کړي، د عامو هېوادوالو ذهنونه یې په اړه له شک او تردد څخه ډک کړي او په دې ډول یې ولسي- ملاتړ ته زیان ورسوي او په خپل ګمان یې له منځه یوسي خو د الله جل شانه په مرسته به ان شاء الله د هېواد او هېوادوالو د خیر او فلاح لپاره رامنځ ته شوی دغه علمي او مدنی بهیر لاپسې پرمخ ځي که څه هم مخالفین یې نه خوښوي. یُرِیدُونَ لِیُطْفِئُوا نُورَ اللَّهِ بِأَفْوَاهِهِمْ وَاللَّهُ مُتِمُّ نُورِهِ وَلَوْ کَرِهَ الْکَافِرُونَ (سورة الصف ٨) .ژباړه: اراده لري چې په خپلو خولو (پوکو) سره د الله رڼا مړه کړي خو الله جل شانه د خپلې رڼا پوره کونکی دی که څه هم پرکافرانو دا کار بد لګیږي.

۱,۱. افراطیت که سولیز فکري جریان:

ځینې انتقاد کوونکي جمعیت اصلاح په فکري افراطیت تورنوي او داسې څرګندوي چې ګویا دغه تمدنی جریان فکري تشدد ته لارهواروي. دا د دروغو بهتان، بې بنسټه تور او پرناپوهۍ ولاړه انګېرنه ده. حقیقت دادی چې د دین څخه د جمعیت اصلاح فهم پر اعتدال، اصالت او علمي بنسټونو ولاړ دی، هغه فهم چې د دین د اصلی سرچینو یعنې قرآن او احادیثو څخه یې د نبی کریم صلی الله علیه وسلم اود هغه د صحابه کرامو د مبارک سیرت او د سلفو صالحینو د علمي کار په رڼا کې زده کړی دی. جمعیت اصلاح ددغه اصیل او معتدل فهم په درلودو سره په ټولنه کې د دین د پلی کیدو او په پایله کې د مثبت او رغنده ټولنیز بدلون د راوستو لپاره پر سولیزه مبارزه باور لري. د جمعیت اصلاح له نظره په ټولنه کې اوسېدونکي بېلابېل فکري جریانونه، ډلې او اشخاص د فکري توپیرونو سره سره ډېر زیات مشترکات او ګډ ټکي لري چې له مخې یې ټول په ګډه مهذب هوسا او سوکاله ژوند درلودلای او د ټولنیز پرمختګ لپاره ګډ کار کولای شي. د فکري اختلاف په صورت کې یو د بل د قانع کولو لپاره تر ټولو ښه لار علمي بحث او مناقشه ده. همدغه د زغم سیاست، او علمي او سولیزې تګلارې دي چې جمعیت اصلاح ته یې د هېواد د دیني علماؤ، علمي او فکري کړیو، ولسي خلکو، مخورومشرانو او ځوانانو په منځ کې ځانګړی مقبولیت وربخښلی دی.

د جمعیت اصلاح فکري هویت له هېچا او هېڅ ډلې پټ نه دی. د فکري سمون لپاره د خپرو شوو کتابونو، میاشتنیو او اوونیزو مجلو څخه یې هر کتابتون او کتاب پلورنځی ډک دی. راډیویی برنامې یې د پرلیکه مکتب او مدرسې په توګه د هېواد د بچیانو په روزنه کې نه هېریدونکې ونډه اخیستې ده . ټولنیزې شبکې او پرلیکه صفحات یې د ځوانانو د لارښونې سرچینې ګرځیدلی دي. دا جمعیت اصلاح ده چې د ملت ځوانان، زده کوونکي او محصلین د اسلامي تمدن د ځلانده ماضي سره تړي او د روښانه راتلونکی لپاره ورته د یو هوسا او پرمختللی هېواد خوب په دماغو کې ترسیموي. دا همدغه تمدنی حرکت دی چې د راتلونکي نسل د ښه روزنې او ټولنیز پرمختګ لپاره د ښځو پر ونډه ټینګار کوي او د انجونو تعلیم د ټولنې د ودې لپاره بنسټیز توکی ګڼي . جمعیت اصلاح د یو آزاد، هوسا او پرمختللي افغانستان په هیله ددغه هېواد د بچیانو په منځ کې د دینپالنې، ملي یووالي، ټولنیزنیاو(اجتماعي عدالت)، متقابل درناوي، ټولنیزې خیرښېګڼې، خیریه خدماتو، رضاکارانه کار، پرځان بسیا کیدلو او علمي مثبت رقابت ارزښتناکه مفاهیمو ته وده ورکوي او پرهمدغه بنسټونو یې خپله فکري تګلاره ودرولی ده، دا هغه حقیقت دی چې د جمعیت اصلاح د موافقینو برسیره هر انصاف لرونکی او اعتدال خوښونکی فکري مخالف پرې هم اعتراف کوي.

۱,۲. جمعیت اصلاح او ملي ارزښتونه:

زمونږ ولس تل د خپلو ارزښتونو ساتنه په خپلو وینو، ځانونو او مالونو سره کړې ده. د هېواد لرې او نږدې تاریخ په دې ګواهي ورکوي چې افغانانو ته د خپلو دیني او ملي ارزښتونو څخه بل هېڅ شی زیات قېمتی نه دی تمام شوی او نه هم بل څه په دومره لوړه بیه قایل شوي دي. جمعیت اصلاح د یو اصیل افغاني دیني او تمدنی جریان په توګه تل هڅه کړې ده چې د اصیلو دیني او ملي ارزښتونو څخه په کلکه دفاع وکړي. دا تشې خبرې نه دي بلکې د جمعیت اصلاح ټول عملي پروګرامونه، روزنیزې دورې، لیکنې او خپرونې ددې خبرې د رښتینولۍ تائید کوي. د ملي ارزښتونو په لړ کې د لاندې توکو څخه یادونه کولای شو چې جمعیت اصلاح یې د ساتنې لپاره ټول وسایل په کار اچولي دي او هڅه کوي د ولس د ځوان نسل په منځ کې یې غښتلي او پیاوړي کړي:

أ) دیني ارزښتونه:

زمونږ د ملي او دیني ارزښتونو په سر کې دینپالنه ده. د افغانستان ولس د دین لپاره هرې قربانۍ او سرښندنې ته چمتو دی او دا یې په تاریخ کې ثابته کړې ده چې پردغه ارزښت هېڅ ډول معامله شونې نه ده . پر دیني ارزښتونو د ټینګار، د عامه پوهاوي د لوړتیا او ولسي روزنې له لارې جمعیت اصلاح هڅه کوي څو افغاني ټولنه د یوې آیډیالې قرآني ټولنې په لور وخوځوي چېرته چې دیني ارونه او انساني ارزښتونه له بل هرڅه زیات پیاوړي وي، خپل منځي مینه او محبت، اقتصادي غښتلتیا، علم و عرفان، ټولنیزه خیرښېګڼه، هوساینه، سوکالي او پرمختګ د ټولنې د پېژندنې سترې نښې وګرځي. په همدې موخه جمعیت اصلاح د یو ستر فکري حرکت په توګه د قرآن پوهنې، سیرت پوهنې، اسلامي معارف، د ځوانانو لپاره د سیرت مسابقې او نور ډول ډول تربیتی پروګرامونه سرته رسوي.

ب) ځمکنۍ بشپړتیا او ملی حاکمیت:

د هېواد خپلواکي، ملي حاکمیت او ځمکنۍ بشپړتیا هغه ستر ارزښت دی چې آزاد او اصیل ولسونه پرې هېڅ وخت د معاملې کولو فکر هم نه شي کولای، یوازې غلامانه ذهنیت لرونکي خلک او پردیپالې کړی،

ددغه ارزښت په قدرنه پوهېږي . زمونږ تاريخ ګواه دی چې افغان مسلمان ولس د خپلې خاورې د آزادۍ او خپلواکۍ لپاره د هر اشغالګر او استعمار خلاف جنګيدلی دی. که د ميلاد څخه وړاندې د مقدوني اسکندر سره د مقاومت خبره کېږي، که د چنګيز د بربريت په وړاندې د ودريدلو کيسه وي، که د صفويانو سره د مقاومت يادونه وي، که د انګريزانو سره د جګړو تاريخ راسپړي، که د روسانو د ماتې له داستانه خوند اخلي او که د امريکايانو په وړاندې د مقاومت ډګرونه وينې په ټولو کې يو رنګ او يو انځور ښکاري او هغه د خپلواکۍ د ساتنې په خاطر د افغان ولس بې مثاله سرښندنه، د سلهاو زره بلکې ميليونونو سرونو قربانۍ او د سترو ښامارانو د ټکولو انځور دی. جمعيت اصلاح په داسې حال کې چې بنسټ ايښودونکی او مشرتابه غړي يې د هېواد د خپلواکۍ د ساتنې لپاره د روسانو د اشغال پرخلاف په سنګرونو کې جنګيدلي دي، پرهېواد يې د امريکا د اشغال او د هغوی سره د دايمي اډو او امنيتي تړون خلاف دريځ او موقف روښانه او واضح دی. دغه فکري او مدني جريان د هر لرې او نږدې، ګاونډي او غير ګاونډي هېواد هره هغه هڅه او عمل په ډېر نارينتوب سره په کلکه غندلی دی چې زمونږ ځمکنۍ بشپړتيا او ملي حاکميت يې ګواښولی دی. د هر پرديپال داخلي ايجنټ خلاف يې غږ پورته کړی او د ملت د ويښونې هڅه يې کړی ده چې غواړي په يوه او بله نامه هېواد تجزيه کړي .

جمعيت اصلاح د افغانستان د آزادۍ او استقلال ورځې له همدې امله په ډېر جوش او شوق سره لمانځي چې ځوان نسل د ددغه ستر ارزښت په قدر پوه کړي، هغوی د خپلو پلرونو او نيکونو د سرښندنو او قربانيو سره چې ددغه ستر ارزښت د ساتنې او بيرته ګټنې لپاره يې ورکړي اشنا کړي او په دې ډول پرېنږدي چې د کلتوري، فکري او عقيدوي يرغل په پايله کې ځوانان د آزادۍ او خپلواکۍ جذبه له لاسه ورکړي.

ج) ويړلی افغاني تاريخ او ملي اتلان

جمعيت اصلاح تاريخ تشې کيسې او داستانونه نه بولي بلکې د ولسونو د عروج او زوال، ويړونو او پيغورونو يو داسې ټولګه يې ګڼي چې ژوندي ولسونه يې له پيښو درسونه اخلي، د عروج عوامل يې په نښه کوي او د پياوړتيا لپاره يې کارکوي او په راتلونکی کې د ناکامه تجربو څخه د ځان ساتنې په موخه يې د زوال اسباب يو پر يو له نظره تېروي. هر ولس په تاريخ کې خوږې او ترخې ورځې او يادونه لري. افغاني تاريخ هم له داسې پيښو ډک دی خو په عمومي ډول سره ويلای شو چې زمونږ تاريخ تر ډېره ويړلې کارنامې لري او جمعيت اصلاح د اصيل افغاني تمدني جريان په توګه د افغاني تاريخ اصيل او ښکلي يادونه د خپل ويار او فخر لامل ګڼي. د جمعيت اصلاح له نظره افغاني پنځه زره کلن تاريخ دوه ستري برخې لري يوه يې له اسلام څخه وړاندې او بله يې د اسلام له راتګ څخه وروسته ده . د اسلام څخه وړاندې د افغاني تاريخ ټول هغه ويړلې کارنامې چې د اسلام د ديني ارزښتونو سره په ټکر کې نه دي، پرته له شکه زمونږ ويار او افتخار دی، خو ددغه تاريخ هغه پيښې او کرکټرونه چې له ديني ارزښتونو سره په ټکر کې دي يوازې د يو تاريخي واقعيت په توګه يې منلی شو او بس. زمونږ د نيکونو شهامت، حياء او غيرت، ميلمه پالنه، د مظلوم سره مرسته، د خپلې آزادۍ ساتنه هغه ويارلي او رانه صفتونه دي چې له اسلامه وړاندې هم موجود وو او د اسلام له راتګ سره لا پياوړي شو.

جمعيت اصلاح د يو متمدن اصلاحي حرکت په توګه خپل لومړيتوب د ولس او هېواد بيا رغونې او پرمختګ په لار کې علمي او عملي کار ګڼي خلکو او اشخاصو په اړه قضاوتونه او پرېکړې کول خو د يو ژوندي حرکت په توګه د پيښو، قضايا او واقعيتونو په اړه ځانګړی نظر درلودل، شننه او تحليل خپل مسلم حق بولي . دغه علمي جريان علمي مناقشې او بحثونه د فکري ودې، سياسي شعور د پوخوالي او عامه پوهاوي وسايل ګڼي خو د تاريخ په اړه د بېځايه، افراطي او متعصبانه بحثونو څخه نه يوازې دا چې په خپله ډډه کوي بلکې له نورو هېوادوالو هم غواړي له داسې مناظرو ډډه وکړي چېرته چې د پخوانيو خلکو د تجريح او بې مورده څنډلو څخه د ولس ترمنځ د درز او واټن پيداکيدلو پرته نور هېڅ په لاس نه راځي، په داسې مواقعو کې د حضرت موسی عليه السلام دريځ زمونږ لپاره ښه بېلګه ده چې فرعون ته يې د پخوانيو امتونو په اړه ويلي وو:{عِلْمُهَا عِنْدَ رَبِّي فِي كِتَابٍ لَا يَضِلُّ رَبِّي وَلَا يَنْسَى} [طه : ٥٢]. د هغوی (يعنې پخوانيو خلکو) علم زما د رب سره په يو کتاب کې ساتل شوی دی، زما رب نه غلطيږي او نه هم ترې هېرېږي.

دا چې د جمعيت اصلاح د فکر، عقيدې او پرېکړې سرچينه قرآن او نبوي مبارک سنت دي نو ځکه د همدغه سپېڅلو مصادرو په رڼا کې د ټولو تاريخي رجالو او شخصيتونو په اړه يې اصولي موقف او دريځ هم له دغه قرآني آيت څخه سرچينه اخلي چې:{تِلْكَ أُمَّةٌ قَدْ خَلَتْ لَهَا مَا كَسَبَتْ وَلَكُمْ مَا كَسَبْتُمْ وَلَا تُسْأَلُونَ عَمَّا كَانُوا يَعْمَلُونَ} [البقرة : ١٣٤]. ژباړه: هغه يو امت ؤ چې تيرشوی دی، هغوی ته به د خپلو کړنو بدله ورکړل شي او تاسې ته به د خپلو کړنو او له تاسې به د هغوی د کړنو په اړه ونه پوښتل شئ.

جمعيت اصلاح د هېواد د لرغوني او معاصر تاريخ اتلان خپل اتلان او ويارلي مشران ګڼي او د هغوی د علمي، ادبي، جهادي او نورو ويارلو کارنامو د ژوندي ساتلو په خاطر هڅه کوي چې ځوان نسل د هغوی د تاريخ سره بلد او اشنا کړي. جمعيت اصلاح د افغانستان په تاريخ کې د هر افغاني شخصيت لاس ته راوړنو ته په درنه سترګه ګوري او هغه تقديروي. جمعيت اصلاح که دميرويس نيکه جهادي کارنامې ستايي نو ترڅنګ يې د لوی احمدشاه بابا لاس ته راوړنې، د هېواد ساتنه، د دين په ننګه د مرهټيانو ماته د خپل ملي تاريخ ويارنې بولي. که د زرغونې انا د ملی غرور قدرداني کوي نو ترڅنګ يې د ميوندۍ ملالې ټپې هم ددغه غرور ځوانې ولولې ګڼي. دغه تمدني حرکت که د سيدجمال الدين افغاني پر علمي نبوغ او اسلامي امتپالنه د ويار احساس کوي نو د ګل باچا الفت اواستاد خليل الله خليلی ټولنيز پيغام هم خپله عملي تګلاره

بولي . که د میوند د فاتح ایوب خان بری او غازي امان الله خان په مشرۍ د انګریزانو څخه د خپلواکۍ ترلاسه کول د ملي جشن په توګه لمانځي نو د وزیر اکبرخان کارنامه هم د یرغلګرو په وړاندې د افغاني نه ماتېدونکي غرور ترجماني بولي. که په لرې ماضي کې د محمود غزنوي په لاس د سومنات ماتول پرکفر د اسلام بریا ګڼي نو په معاصر تاریخ کې استاد عبدالرحیم نیازي، استاد غلام محمد نیازي، شهید انجینیر حبیب الرحمن، شهید مولوي حبیب الرحمن، شهید ډاکټرمحمد عمر او د اسلامي نهضت نور شخصیتونه د ځوان نسل لپاره د الله په لار کې د سرښندنې او قربانۍ ښې نمونې او الګو ګڼي چا چې د خپلو ځوانیو په برکت یوازې د هېواد نه بلکې د اسلام په تاریخ کې د جهاد او مقاومت یو نوی باب پرانسته.

جمعیت اصلاح د یو آزاد، هوسا او پرمختللي افغانستان په هیله ددغه هېواد د بچیانو په منځ کې د دینپالنې، ملي یووالي، ټولنیزنیاو (اجتماعي عدالت)، متقابل درناوي، ټولنیزې خیرښېګڼې، خیریه خدماتو، رضاکارانه کار، پرځان بسیا کیدلو او علمي مثبت رقابت ارزښتناکه مفاهیمو ته وده ورکوي او پرهمدغه بنسټونو یې خپله فکري تګلاره ودرولی ده، دا هغه حقیقت دی چې د جمعیت اصلاح د موافقینو برسیره هر انصاف لرونکی او اعتدال خوښونکی فکري مخالف پرې هم اعتراف کوي.

د هېواد د تاریخ سره د ځوان نسل د اشنا کولو لپاره له دې څخه بل غوره ثبوت څه کیدلای شي چې جمعیت اصلاح له یوې خوا د افغانستان تاریخ (د استاذ عبدالحی حبیبي لیکنه) د خپل روزنیز نصاب لازمي برخه ګرځولې ده او بلې خوا هرکال د افغانستان د تاریخ د مشهورو څېرو او شخصیتونو په یاد وخت په وخت علمي غونډې، څېړنیزې لیکنې او کانفرانسونه ترسره کوي او پردې سربیره یې د هېواد په لرو بر کې خپل کتابتونونه او د علمي غونډو تالارونه د تاریخي شخصیتونو په نومونو نومولي دي.

د) ملي ژبې او ملي فرهنګ

ژبه او فرهنګ د الله جل شأنه د قدرت نښې، د ولسونو د پېژندګلوي، افهام او تفهیم او علمي پرمختګ وسایل دي. د ژبې سوچه والی او غنامندي او د ادب او فرهنګ پرمختیا د ولسونو په تهذیبي، علمي او تکنالوژیکه وده کې ستره ونډه لري. ملي ژبې او ملي فرهنګ د ولسونو ترمنځ د خپلوۍ او یووالي احساس غښتلی کوي له همدې امله جمعیت اصلاح د ملي ارزښتونو په توګه ملي ژبو او ملي فرهنګ ته په درنه سترګه ګوري، په پالنه، پرمختیا او وده کې یې ونډه له بل هر چا غوښنه ده . د لیکوالۍ، شعر او ادب د ودې لپاره د [رسالت] په نامه د ادبي انجمن، د ژباړې، لیکنې او تألیف د پیاوړتیا او ودې لپاره د [اصلاح دارالترجمې] او د کتابونو د خپرولو لپاره د [اصلاح افکار] د خدماتو سره څوک سیالي کولای شي. په پښتو او فارسي ژبو د خپرو شوو کتابونو شمېر او تیراژ یې د سلګونو زرو جلدونو څخه اوړي . د علم او ادب، لیکوالۍ او ترجمې د فرهنګ په دود کولو سره یې په لسګونو ځوان او تانده باهدفه قلمونه او قلموال روزلي او ټولنې ته وړاندې کړي دي. لیکوال خپل ځان او خپل قلم هم ددغه مدني حرکت د احسان پوروړی بولي.

د اصیل افغاني کلتور د ودې او غښتلتیا په اړه هم ددغه مدني حرکت خدمات د پام وړ او نه هیریدونکي دي. حیاء، غیرت، یو د بل لاس نیوی، د بې وزله او یتیم سره مرسته د افغاني ټولنې څرګند صفات او پېژندونکي نښې دي. هلته چې زمونږ دغه ملي ارزښتونه د ګواښ سره مخ شو، ځینې رسنیو مو د پردي سفارتونو په مالي مرستو زمونږ د اصیل افغاني کلتور د تباهۍ او ورکولو لپاره کار پیل کړ، نو همدغه ولسي اسلامي جریان وو چې په مېړانه ډګر ته راووته او په نه امکاناتو یې د دغه کلتوري یرغل په وړاندې مقابله پیل کړه. هلته چې د نورو په مرسته او اشاره رامنځ ته شوي ځینې تش په نامه افغاني تلویزونونه د افغاني پیغلو او ځوانانو د ګمراه کولو او اخلاقي انحراف لپاره لاس په کار شو دا جمعیت اصلاح وه چې راوړاندې شوه او خپل ټول غړي او ځانګې یې په خوځښت راوستې. د جمعیت اصلاح د خویندو ځانګې د بې حیایې او بې پتۍ پروړاندې هېواد شموله کمپاین وچلاوه او د [حجاب ستا پت دی] کوچنۍ جمله یې د هرې باحیاء او عزتمندې خور او لور پر شعار بدله کړه.

آیا دا د جمعیت اصلاح د ځوانانو ځانګه یعنې نجم نه ؤ چې د هېواد په تاریخ کې یې د لومړي ځل لپاره د معارف د ستورو او سیرت د ستورو تر سرلیک لاندې بېلابېل پروګرامونه په لار واچول او په دې ډول یې ګڼ شمېر ځوانان خپلو علمي اهدافو ته تشویق کړل په داسې حال کې چې رسنیو هغوی سندرو، عبثیاتو او بې حیایۍ ته تشویقول.کله چې یو زیات شمېر راډیوګانو د سندرو، بې بندوباره ټوکو ټکالو، مبتذلو او حیاء سوزونکو پروګرامونو په خپرولو زمونږ کلتور ګواښه نو اصلاح غږ راډیو وه چې د هېواد او ملت له دغه معنوي پولو یې دفاع پیل کړه او ولس ته یې د باهدفه او روزنیزو، تفریحي او علمي پروګرامونو په وړاندې کولو کې خپل تاریخي رسالت اداء کړ.

هلته چې ځینو غوښتل د هېواد علمي مرکزونه، پوهنتونونه، انستیټیوټونه او تعلیمي اداري د علم او عرفان پرځای د بې حیایۍ او فرهنګ وژنې په مراکزو بدلې کړي او د ځوانانو او پیغلو ترمنځ د ناروا اړیکو او اختلاط ته وده ورکړي، همدا جمعیت اصلاح وه چې د انجونو لپاره یې ځانګړې تعلیمي اداري رامنځ ته کړې څو د هغوی د عفت او عزت ساتنه وکړي. کله چې ټولنه د ځان ځانۍ، مادیت او سرمایه داری لورته ټیل وهل شوه دا جمعیت اصلاح وه چې د ټولنې د بې وزله، یتیمو او کونډو د سرپرستۍ لپاره یې د عامو افغانانو پام را اړول پیل کړل، د کلیسا او پردیو د مرستو پرځای یې خپل خلک د خپلو هېوادوالو مرستې کولو ته تشویق کړل او په دې ډول د الله په مرسته اود احسان خیریه ټولنې له لارې وتوانیده د افغاني کلتور دغه اړخ هم تاند وساتي.

احمدضیاء رحیمزی

وحشتی که از "جنگ" نشأت می کند!

روزگاری در محیط مهاجرت داستانی را از نویسنده و شاعر معروف زبان پشتو"درویش درانی" خوانده بودم که از یک جنگ خونین در سده نوزدهم میلادی سخن می گفت؛ داستان طولانی بود ولی آنچه از این داستان تا به حال و با گذشت سالها هنوز در ذهنم روشن است، این است که در خلال جنگ مذکور یکی از افراد کشته شده، دندان طلایی به دهان داشت و پس از کشته شدن وی، فرد دیگری با سنگ به جان وی می افتد و تلاش دارد تا دندان طلایی وی را که به گونه حتم در آن زمان ارزش زیادی داشته، از دهان وی بیرون آورد و به اصطلاح ثروتی برای خود بیاندوزد. قسمت های از این داستان از آن زمان تا حال در گوشه یی از ذهنم باقی مانده بود، ولی با واقعه یی که چندی قبل در کابل به وقوع پیوست، یک بار دیگر این داستان در ذهنم تداعی شد.

مدتی قبل یک حمله انتحاری مخالفین مسلح در منطقه دهمزنگ شهر کابل بر قرار گاه نیروهای نظم و امن عامه و پولیس سرحدی طبق معمول ده ها کشته و مجروح بر جا گذاشت.

در این سطور نمی خواهم روی چگونگی این حمله که بدون شک نه اولین بود و نه هم آخرین آن، بحث کنم، هدف بُعد دیگری از این قضیه است که به نظر من بیشتر از این گونه حملات تکان دهنده و وحشتناک است.

یک روز پس از این حمله انتحاری، جهت انجام کار عاجل در شهر نو کابل، سوار موتر تاکسی شدم، راننده جوانی از باشنده گان اصلی شهر کابل که به تازه گی از مهاجرت ایران به کشورش برگشته بود، داستان های از رنج ذهنی و فزیکی پس از برگشت از ایران را حکایت می کرد و در خلال این صحبت ها آنچه در مورد چشم دید خود از حمله انتحاری در جاده دهمزنگ، حکایت کرد آنقدر وحشتناک و تکان دهنده بود که از شنیدنش مو بر اندام انسان راست می گردید.

راننده مذکور حکایت می کرد که در لحظه این انفجار، موتر کوچک وی در عقب یک موتر بزرگ باربری که درست در محل انفجار قرار داشت، منتظر باز شدن جاده بود که صدای مهیب انفجار شنیده شد و در یک لحظه جاده های این محل به جویباری از خون مبدل شد، پارچه های از گوشت انسان به هر سو پراگنده بودندولی در همین حال متوجه می شود که چند تن از عابرین که از شر حادثه در امان مانده بودند به نام کمک به کشته شده گان و مجروحین این انفجار، داخل صحنه شدند، اما به قول این راننده جوان وی با چشمان از حدقه برامده خویش متوجه می شود که یکی یا دو تن از این"خدمتگاران خدایی"، با استفاده از دهشت زده گی مردم حاضر در صحنه، به جستجوی جیب های اجساد پارچه پارچه و پاره پاره کشته شده گان و یا مجروحین می پرداختند و در یک لحظه چندین سیت تلیفون همراه و یا کیسه های جیبی آنان را با خود گرفتند.

شاید عده زیادی همچو من این حکایت راننده تاکسی را باور نکنند و یقین نه داشته باشند در چنین فضای وحشت ناک و در میان انباری از پارچه های گوشت انسانی، انسان زنده یی به جستجوی جیب های این اجساد پارچه پارچه شده بپردازد!! ولی چشمان اشک بار راننده تاکسی و واقعیت های تلخ دیگری که از جنگ و خون ریزی نشأت می گیرد، انسان را به این باور می رساند که به راستی هم در این"دنیای دون" کسانی یافت می شوند که بدون موجودیت رمقی از انسانیت، با همه وحشت و بربریت و قلب عاری از حس بشر دوستی به این گونه اعمال بپردازند.

طبیعی است که تا هنگامی این جنگ شوم و این فضای آگنده از وحشت و بربریت بر کشور و جامعه ما مسلط باشد، نمی توان توقع داشت که نسل های کنونی و آینده ما، وضعیت بهتری از این را داشته باشد؛ پس همه آنانیکه به خیر و فلاح این جامعه و این مردم می اندیشند، باید اولین کار و تلاش شان برای خاتمه این جنگ خانمانسوز و وحشی باشد، نه در راستای دامن زدن به آتشی که فردا دامنگیر آنان نیز خواهد شد!!

اریکی: habibi@eslahonline.net

گلبرگهای ادبی

لیمو ترش

لیمو ترش محصولی است که در نابودی حجرات سرطانی معجزه پرپا میکند، و ۱۰۰۰۰ بار قویتر از مواد کیمیاوی ضد سرطان عمل می کند. چرا ما چیزی در باره آن نمی دانیم؟

اینک شما می توانید به دوست نیازمند خود کمک کنید ، از طریق اینکه به او بگوئید که آب لیمو ترش در جلوگیری از سرطان سودمند است.

طعم آن بسیار خوشایند است و عوارض جانبی ندارد.بسیاری از مردم دراثر سرطان می میرند درحالیکه این راز همچنان حفظ می شود تا منافع شرکت های داروسازی به خطرنیافتد.

لیمو ترش را می توان به صورت های متفاوت مصرف نمود. قسمت گوشتی آن را خورد یا آب آن را مصرف نمود، به صورت شربت و یا صورت دیگر. جالب ترین خاصیت آن اثرش برروی کیست ها و تومورهاست . ثابت شده است که این گیاه درمان گر همه انواع سرطان است.همچنین بعنوان یک ضد قارچ و عفونت ها و کرم ها محسوب می شود. فشار خون بالا را تنظیم می کند و و ضد افسردگی است و با استرس و اختلالات عصبی مبارزه می کند. جالبتر ازان اینست که تأثیرات لیمو در از بین بردن دوازده نوعه سرطان ثابت شده که از انجمله میتوان سرطان های ذیل را نام برد.

سرطان سینه، سرطان پروستات، سرطان روده، سرطان پانکریاس

برای خوردن مال دیگران هر حیله را میتوانید بسازید اما محاسبهٔ الله چطور؟

دو پیرمرد که یکی از آنها قد بلند و قوی هیکل و دیگری قد خمیده و ناتوان بود و بر عصای خود تکیه داده بود، نزد قاضی به شکایت از یکدیگر آمدند.

اولی گفت: به مقدار ۱۰ قطعه طلا به این شخص قرض دادم تا در وقت امکان به من برگرداند و اکنون توانایی اداء کردن بدهکاریش را دارد ولی تأخیر می اندازد و اینک می گوید گمان می کنم طلب تو را داده ام. حضرت قاضی! از شما تقاضا دارم وی را سوگند بده که آیا بدهکاری خودش را داده است، یا خیر. چنانچه قسم یاد کرد که من دیگر حرفی ندارم.

دومی گفت: من اقرار می کنم که ده قطعه طلا از وی قرض نموده ام ولی بدهکاری را اداء کردم و برای قسم یاد کردن، آماده هستم.

قاضی: دست راست خود را بلند کن و قسم یاد کن.

پیرمرد: یک دست که سهل است، هر دو دست را بلند می کنم.

سپس عصا را به مرد مدعی داد و هر دو دستش را بلند کرد و گفت: به خدا قسم که من قطعات طلا را به این شخص دادم و اگر بار دیگر از من مطالبه کند، از روی فراموشکاری و ناآگاهی است.

قاضی به طلبکار گفت: اکنون چه می گویی؟ او در جواب گفت: من می دانم که این شخص قسم دروغ یاد نمی کند، شاید من فراموش کرده باشم، امیدوارم حقیقت آشکار شود.

قاضی به آن دو نفر اجازه مرخصی داد، پیرمرد عصای خود را از دیگری گرفت. در این موقع قاضی به فکر فرو رفت و بی درنگ هر دوی آنها را صدا زد. قاضی عصا را گرفت و با کنجکاوی دیواره آن را نگاه کرد و دیواره اش را تراشید، ناگاه دید که ده قطعه طلا در میان عصا جاسازی شده است. به طلبکار گفت: بدهکار وقتی که عصا را به دست تو داد، حیله کرد که قسم دروغ نخورد ولی من از او زیرکتر بودم.

پول در بدل دشنام!

مرد جوانی که می خواست راه معنویت را طی کند به سراغ استاد رفت. استاد خردمند گفت: تا یک سال به هر کسی که به تو حمله کند و دشنام دهد پولی بده.

تا دوازده ماه هر کسی به جوان حمله می کرد جوان به او پولی میداد. آخر سال باز به سراغ استاد رفت تا گام بعد را بیاموزد.

استاد گفت: به شهر برو و برایم غذا بخر.

همین که مرد رفت استاد خود را به لباس یک گدا در آورد و از راه میانبر کنار دروازه شهر رفت. وقتی مرد جوان رسید، استاد شروع کرد به توهین کردن به او.

جوان به گدا گفت: عالی است! یک سال مجبور بودم به هر کسی که به من توهین می کرد پول بدهم اما حالا می توانم مجانی فحش بشنوم، بدون آنکه پشیزی خرج کنم.

استاد وقتی صحبت جوان را شنید رو نشان داده و گفت: برای گام بعدی آماده ای چون یاد گرفتی به روی مشکلات بخندی!

داوینچی می گوید: مشکلات نمی تواند مرا شکست دهند، هر مشکلی در برابر تصمیم قاطع من تسلیم می شود. (از ویب سایت پند آموز)

چهار اصل اخلاق نیکو!

ابن قیم رحمه الله میگوید: اخلاق نیک روی چهار ارکان استوار است:

۱- صبر:- اشتباه مردم را به احتمال اینکه شاید قصدش چیزی دیگری باشد، حمل میکند، خشمش را میخورد، از اذیت مردم دست میکشد، حلم و نرمش را از آن خود می سازد و در انجام کار دست و پارچه نشده و عجله نمی کند.

۲- عفت و پاکدامنی:- از اقوال و افعال پست و قبیح دوری نموده و شرم و حیاء را که رأس تمام خوبیها و سد تمام بدیها از جمله بخل، دروغ، غیبت و سخن چینی است، از خود دور می سازد.

۳- شجاعت و دلیری:- شجاعت و دلیری ویرا بسوی عزت نفس، راه یافتن به اخلاق عالی، خوی و سرشت نیک و سخاوت و جوانمردی می کشاند، زیرا وی با نیروی نفس و شجاعتش لگام خویش را بدست میگیرد.

٤- عدالت:- عدالت انسان را بسوی اعتدال اخلاقی و انتخاب روش میانه بین افراط و تفریط می کشاند، "عدالت" ویرا بسوی شجاعت اخلاقی ای سوق میدهد که میان جبن و هلاکت و اخلاق نرمی که حد اوسط غضب و ذلت، است، می برد. (از کتاب الفبای تربیت فرزندان).

چلوونکی: عبدالرزاق حبیبي

ومعلوماتي

دعوتګره! زده يې کړه

په هر سفر کې تا سره مصحف (قرآن شريف) وي يا مجله وي يا کوم اخبار، او تاسره خوا کې د هر ناست سړي عادت وي چې ته کومه مجله يا اخبار لولې هغه به ورته د سترګو له کونجونو ګوري. پدې وخت کې ته کولی شې چې هغه ته يې وړاندې کړې او چې کله يې هغه ولولي نو خامخا به يې تشکر او مننې سره غبرګ ببرته درکوي نو ته اوس کولی شې چې د اخبار يا مجلې د موضوعاتو څخه د يوې موضوع په اړه له هغه سره خبره پيل کړې او د خبرو دائره پراخه کړې او بشپړ تعارف ورسره وکړې. دا ضروري نده چې خامخا دې تعارف او پېژندګلوي په نامه سره وي بلکې که د نامه پوښتنه مناسبه نه وه يا څه ستونزه پکې وه نو مهمه داده چې خبره او بحث بايد د دعوت په يو اړخ او يو جانب کې وي، ځکه زمونږ دنده او مسئوليت د ولس ترمنځ اسلامي پوهه او ديني ويښتيا او بيداري خپرول دي، کيدای شي بل داسې فرصت پيښ شي چې هلته بيا بشپړ تعارف په پوره شوق او عاطفې سره ترسره شي. (زړونو ته لار کتاب څخه).

علم د خلکو پسې نه ځي!

کله، چې هارون الرشـــيد مدينې منورې ته لاړ او په نبوي جومات کې يې، چې امام مالک رضـــی الله عنـه وليد، چې تدريس کوي، نو ورته يې وويل: مالکه! که مونږ کره راشـــې او تدريس وکړې نو څه به وشي؟

امام مالک رضي الله عنه ورته وويل: علم خلکو پسې نه ورځي، بلکې خلک بايد علم پسې لاړ شي.

نو هغه ورته وويل: د دارالهجرة امامه بيا نو سمه ده مونږ به درته جومات ته راځو.

امام مالک ورته وويل: خو که ناوخته راغلې بيا اجازه نه درکوم، چې د خلکو په اوږو اوړې او اول صف ته ځان را ورسوې.

هارون الرشيد ورته وويل: په دواړو سترګو.

کله، چې مازيګر مهال امام مالک درس پيل کړ نو هارون الرشـــيد هم راغی او خادمانو يې ورته په آخر کې چوکۍ کېښـوده او کېناسـت نو امام مالک درس بدل کړ او هغه حديث يې وويل: رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: چا چې تواضع وکړه الله به يې سرلوړی کړي او چا چې کبر وکړ الله به يې خوار کړي.

هارون الرشـيد د حديث په معنی پوه شـو، چوکۍ يې لرې کړه او د نورو خلکو په شـان په ځمکه کېناست.

دا د هغـه خير القرون د زمـانې علماء او حاکمان وو، چې عالمان د حق په خبره کې له هېچا څخه نه وېرېدل او حاکمانو هم د حق خبرې په وړاندې د تواضع سر ښکته کولو.

ستا هر بد ويونکی به محاسبه کېږي

ته په بل ښـار کې يې، دلته ستا په اړه خبرې کېږي، يوه غوږ ورته نيولی، بل ورته لګيا دی او ســتا په اړه هغه څه وايي چې که يې مخامخ درته ووايي پرې خپه کېږي، دوی سره خاندي خپل مجلس پر مخ وړي او ته هم له دوی سره هېڅ په اړيکه کې نه يې، آن په بل ښار کې يې.

د دوی خبرې ظاهراً تاته هېڅ تاوان نه در رسـوي، آن پرې خبر لا هم نه يې، خو دغه يو کس غواړي ستا په اړه د هغه بل کس تصـور بدل کړي، ځکه خو ستا په اړه هغه څه ورته وايي چې تاته يې مخامخ نه شي ويلی او هغه بل اورېدونکی کس هم تر دې وړاندې ستا په اړه داسې څه نه و اورېدلي.

که ته بېخې له دې خبرو خبر هم نه شې او بيا په ژوند کې له هغو دوو کسانو سره په اړيکه کې هم نه شـې، خو ستا پوښتنه له هغه چا نه کېږي چې ستا په اړه يې داسې څه ويل چې ته پرې خپه کېدلې او ستا په اړه يې د بل لوري د تصـور د بدلولو هڅه کوله، ښـايي هغه کس ته دا هېڅ هم نه وي ښـکاره شـوي، خو اسـلام دا ډول خبرې غيبت بولي او په لويو ګناهونو کې يې ګڼي.

له خبرې کوونکي به سـتا په اړه د څرګندونو پوښـتنه کېږي، په لوی ميدان کې د لوی الله جل جلاله له لوري، په داسې حال کې چې ستا په اړه د هغه غږېدونکي کس څرګندونې الله جل جلاله ته ذره تاوان نه شي رسولی، خو ستا په خاطر يې تر ګرېوان نيسي!

ما هم ته معاف کړې!

د ابو هريرة رضی الله عنه نه روايت دی، چې رسول الله عليه افضل الصلاة والسلام وفرمايل: يو کس هېڅ ښه کار نه و کړی، خو خلکو ته به يې قرض ورکاوه او خپل استازي ته (چې د قرضونو پسې به يې ليږه) ويل: خلکو ته چې څه اسانه وو هغه اخله او چې ورته ګران وو هغه پرېږده او ترې تېر شه کېدای شي الله عزوجل مونږ ته(دګناهونو په ښبلو کې) ترې تېر شي. کله چې دغه کس مړ شو الله عز وجل ورته وفرمايل: آيا تا کوم نېک کار کړی؟ هغه ورته وويل: نه! مګر ما به خلکو ته قرض ورکاوه او زما يو غلام ؤ کله به چې هغه د قرض د پيسو راوړلو پسې ته، نو ما به هغه ته ويلې: څه چې درته خلک په اسانی درکوي هغه اخله او د هغوی سره سختي مه کوه او ښښنه ورته کوه کېدای شي الله عزوجل مونږ ته (په دغه کار) ښښنه وکړي. الله عزوجل ورته وفرمايل: ما هم ته معاف کړې.

آمار بلند تلفات ملکی؛ عوامل و پیام‌ها

مرکز مطالعات استراتیژیک و منطقوی

دفتر معاونت سازمان ملل متحد برای افغانستان (یوناما)، نهمین گزارش سالانهٔ خویش را از تلفات ملکی در افغانستان به تاریخ ۱۴ فبروری ۲۰۱۶ منتشر کرد که واکنش‌های طرف‌های درگیر در جنگ افغانستان را، نیز در پی داشت.

بر اساس این گزارش، سال ۲۰۱۵ خونین‌ترین سال برای افراد ملکی، پس از سرنگونی رژیم طالبان در افغانستان بود. بر بنیاد آمارهای ارائه‌شده در این گزارش، در سال ۲۰۱۵ میلادی ۱۱۰۰۲ فرد ملکی، قربانی جنگ در کشور بودند. همچنان این سال، برای زنان و کودکان نیز نسبت به ۹ سال پسین، سال خونین بوده که در آن تلفات کودکان به ۲۸۲۹ تن و تلفات زنان به ۱۲۴۶ تن رسید.

چگونگی تلفات ملکی در سال‌های گذشته، عاملین تلفات ملکی، نقش گروه داعش در تلفات ملکی و عوامل افزایش تلفات ملکی، مسائلی اند که در این بخش تحلیل هفته به آن پرداخته شده است.

پیشینهٔ تلفات ملکی در افغانستان

بعد از کودتای کمونستی و حملهٔ شوروی بر افغانستان، تلفات ملکی در کشور افزایش یافت. در جنگ ده سالهٔ شوروی در افغانستان به تعداد ۰,۸۵ الی ۱,۵ ملیون فرد ملکی در افغانستان کشته و در حدود سه میلیون دیگر زخمی شدند.

هرچند سروی دقیقی از تلفات ملکی در زمان جنگ‌های داخلی در افغانستان صورت نگرفته، ولی با آنهم بر بنیاد یافته‌های سازمان ملل متحد، تنها در ماه‌های می الی اگست سال ۱۹۹۲ حدوداً ۱۸۰۰ فرد ملکی در شهر کابل در اثر شلیک راکت و هاوان کشته شده‌اند و بر اساس یک تخمین دیگر سازمان ملل متحد، در سال ۱۹۹۴ تنها در کابل ۲۵ هزار نفر کشته شده‌اند که بیشتر آنها افراد ملکی بودند.

تلفات غیرنظامیان (۲۰۰۱-۲۰۱۵)

در سال ۲۰۰۱ زمانیکه نیروهای امریکایی و نیروهای ائتلاف حملات خود را به خاک افغانستان آغاز کردند، میزان تلفات افراد ملکی در این سال بلند بود و شمار کشته‌شده‌گان ملکی به ۲۳۷۵ تن می‌رسید. سپس در سال‌های ۲۰۰۲ الی ۲۰۰۶ جمعاً ۲۴۲۲ فرد ملکی کشته شدند. باید گفت که این آمار از طرف اداره‌ی رسمی جمع‌آوری نگردیده بلکه محصول تلاش‌های شخصی از جانب محققین بوده است.

یوناما در سال ۲۰۰۷ آغاز به جمع‌آوری ارقام تلفات ملکی نمود، ولی از لحاظ میتودولوژی علمی، گزارش‌های یوناما در سال‌های ۲۰۰۷ و ۲۰۰۸ با گزارش‌های این نهاد در سال ۲۰۰۹ و سال‌های پس از آن، متفاوت اند.

اگر گزارش‌های یوناما در مورد تلفات ملکی را مطالعه نماییم، با مقایسه و مطالعهٔ ارقام ارئه شده در مورد تلفات ملکی از سوی این نهاد، در می‌یابیم که هر زمانی ناامنی‌ها بیشتر شده و جنگ نیروهای افغان و خارجی با مخالفین مسلح دولت شدت گرفته، تلفات ملکی نیز افزایش یافته است. پس از سال ۲۰۰۷ همه‌ساله (به استثناء سال ۲۰۱۲) میزان تلفات ملکی افزایش یافته است (برای توضیح بیشتر به جدول-۱ مراجعه نمایید). در سال ۲۰۰۷ به طور مجموعی تعداد تلفات ملکی ۱۵۲۳ تن بود، ولی این رقم در سال ۲۰۱۵ به ۱۱۰۰۲ تن رسید.

از ۲۰۰۹ بدین‌سو همه‌ساله تعداد زخمی‌های ملکی افزایش یافته است، ولی میزان کشته‌شده‌گان در سال‌های ۲۰۱۲ و ۲۰۱۵ نسبت به سال‌های دیگر کم‌تر بوده است (برای توضیح بیشتر به جدول-۱ مراجعه نمایید).

قابل یادآوری است که در این ارقام آنعده از تلفات ملکی که یوناما در مورد قراردادن آن تحت کتگوری تلفات ملکی شواهد کافی ندارد و یا هم مواردی که یوناما به آن دسترسی نداشته است، شامل این گزارش نشده است. همچنان تلفات ملکی ناشی از حملات طیارات بدون سرنشین و یا هم تلفاتی که از طرف نیروهای خارجی به افراد ملکی وارد شده، در این ارقام اضافه نشده است. با این هم، با توجه به ارقام سازمان ملل متحد، از سال ۲۰۰۷ تا پایان سال ۲۰۱۵ میلادی، شمار کشته و زخمی شده‌گان افراد ملکی در افغانستان به ۶۲۳۷۵ تن می‌رسد.

عاملین تلفات ملکی

گزارش سالانهٔ یوناما می‌گوید در یک افزایش بی‌سابقه در چندین سال گذشته، ۳۵۴۵ نفر از غیرنظامیان در سال ۲۰۱۵ میلادی در افغانستان کشته و ۷۴۵۷ نفر آنها زخمی شده‌اند. این‌که مسؤول تلفات تعداد زیاد این افراد ملکی کدام جهت است، گزارش یوناما می‌گوید که طالبان مسئول ۶۲ فیصد و نیروهای افغان مسئول ۱۷ فیصد این تلفات می‌باشند. در حالی که در سال ۲۰۱۴ میلادی ۷۵ فیصد مسئولیت تلفات افراد ملکی به مخالفین مسلح نسبت داده شده بود.

گزارش یوناما در این مورد می‌افزاید که از سال ۲۰۰۷ الی ۲۰۱۴ با گذشت هر سال افراد بیشتر ملکی در حملات مخالفین مسلح دولت کشته و زخمی شده‌اند. در سال ۲۰۰۷، ۷۰۰ تن و در سال ۲۰۱۴، ۷۶۴۳ فرد ملکی در حملات مخالفین مسلح کشته و زخمی شدند. ولی بر اساس گزارش سال ۲۰۱۵، تعداد تلفات ملکی در حملات مخالفین مسلح دولت کاهش یافته و به ۶۸۵۹ تن رسیده است.

بر اساس تعریف یوناما هر کسی که در مقابل دولت می‌جنگد، به شمول طالبان، حزب اسلامی، نهضت اسلامی ازبکستان، اتحاد جهاد اسلامی، لشکر طیبه، جیش محمد، گروه داعش و سایر مخالفین مسلح، در کتگوری مخالفین مسلح دولت شامل می‌شود.

از سوی دیگر میزان تلفات افراد ملکی که از طرف نیروهای طرفدار حکومت افغانستان مورد هدف قرار گرفته، در اوقات مختلف کاهش و افزایش یافته است. میزان این تلفات در سال‌های ۲۰۱۰ و ۲۰۱۲ کاهش یافته، ولی پس از سال ۲۰۱۲ رو به افزایش نهاده است. در سال ۲۰۱۵ در مقایسه به سال‌های گذشته این رقم به اوج خود رسیده است، در این سال نیروهای طرفدار حکومت مسؤول تلفات ۱۸۵۴ فرد ملکی بودند و در کل از سال ۲۰۰۷ تا پایان سال ۲۰۱۵ میلادی، بر اساس آمارهای سازمان ملل متحد، عامل تلفات ۹۳۱۴ فرد ملکی نیروهای طرفدار حکومت و عامل تلفات ۴۵٦۵۵ فرد ملکی، مخالفین مسلح دولت پنداشته شده است.

تلفات زنان و کودکان (۲۰۰۷-۲۰۱۵)

با گشترش ناامنی‌ها در کشور که تلفات ملکی افزایش یافته، آمار تلفات زنان و کودکان نیز در این تلفات همه‌ساله رو به افزایش بوده و این خود یکی از بدترین ابعاد جنگ جاری در کشور است.

بر اساس ارقامی که از طرف یوناما ارائه شده، در سال ۲۰۰۷ جمعا ۲۱۷ کودک و ۵۷ زن کشته و یا زخمی شده بودند و این رقم در سال ۲۰۱۵ در مورد کودکان به ۲۸۲۹ تن رسید و در مورد زنان به ۱۲۴٦ تن رسید و به این ترتیب در سال ۲۰۱۵ میلادی تلفات زنان در افغانستان ۳۷ فیصد و تلفات کودکان ۱۴ فیصد افزایش یافته است. از سال ۲۰۰۷ تا پایان سال ۲۰۱۵ میلادی جمعاً شمار تلفات کودکان ۱۱۸٦۷ و شمار تلفات زنان ۴٦۱۴ تن بود. همچنان در تلفات زنان و کودکان شمار مجروحین و جان‌باختگان نیز همه‌ساله رو به افزایش بوده است (برای جزئیات بیشتر به جدول-۳ مراجعه نمایید).

عوامل افزایش تلفات ملکی

- جنگ: این جنگ است که باعث افزایش تلفات ملکی گردیده است و همواره با گرم شدن جنگ در مناطق مختلف کشور تلفات ملکی افزایش یافته است. یوناما می‌گوید که افراد ملکی بیشترین تلفات را در جریان جنگ متحمل شده‌اند که در درگیری میان نیروهای امنیتی افغان و مخالفان مسلح در جریان سال ۲۰۱۵ میلادی، ۱۱۱٦ تن جان باخته و ۳۰۲۱ تن زخمی شده اند.
- انفجارات: عامل عمدهٔ افزایش تلفات ملکی در سال گذشته انفجارهای خونین در کابل و سایر شهرهای کشور بود. به عنوان مثال در انفجار خونین شاه شهید کابل ده‌ها فرد ملکی جان باختند و شمار زیاد دیگر جراحت برداشتند که مسؤولیت آن‌را هیچ کسی یا گروهی به عهده نگرفت.
- گروه داعش: دانیل بیل رئیس بخش حقوق بشر- دفتر معاونت سازمان ملل متحد در افغانستان، هفتهٔ گذشته در یک کنفرانس خبری گفت: «بر اساس یافته‌های یوناما، گروه داعش مسؤول ۸۳ مورد تلفات ملکی بوده که از آن جمله ۸۲ مورد آن تنها در مناطق کوت، اچین و سپین غر ولایت ننگرهار بوده است و در نتیجهٔ آن ۳۹ تن کشته، ۴۳ تن زخمی و ۸۲ تن دیگر اختطاف گردیدند».
- عملیات نظامی حکومت: گزارش سال ۲۰۱۵ یوناما در مورد تلفات ملکی می‌گوید که در این سال، عامل ۱۷ در صد تلفات ملکی نیروهای طرفدار حکومت بوده. عامل این افزایش، راه‌اندازی عملیات نظامی تهاجمی از سوی نیروهای افغان پنداشته می‌شود.
- سقوط کندز و حوادث اخیر در بغلان: با گسترش جنگ به شمال کشور، به خصوص در روزهای سقوط ولایت کندز به دست طالبان، شمار زیادی افراد ملکی کشته و زخمی شدند، ولی در مورد آمار آن سروی و یا تحقیق دقیقی صورت نگرفته است. یوناما در دو هفتهٔ گذشته حدود ۲۰ واقعه را در بغلان ثبت نموده که بیشتر آنها در پلخمری، دوشی و بغلان جدید به وقوع پیوسته و این اداره تلفات ۲۷ فرد ملکی را تأیید می‌کند که از این جمله ۷ تن کشته و ۲۰ تن زخمی شده‌اند و دو زن و ۱۳ طفل نیز شامل این تلفات بودند.

واکنش حکومت و طالبان

حکومت افغانستان و طالبان نیز در رابطه به گزارش اخیر یوناما واکنش نشان دادند. ریاست جمهوری و ریاست اجرائیهٔ افغانستان بخش‌هایی از گزارش یوناما را رد کرد. یوناما در بخشی از گزارش خود نگاشته است که، تلفات افراد ملکی در اثر حملات زمینی طالبان نسبت به سال گذشته کاهش یافته است. ریاست جمهوری افغانستان با نشر خبرنامه‌ای گفته است که، با تشخیص یوناما در مورد چگونگی کاهش ۴۲ در صد تلفات افراد ملکی از اثر حملات زمینی طالبان موافقت ندارد.

در کنار این، ریاست جمهوری افغانستان همچنان گزارش یوناما را مبنی بر سیزده در صد تلفات ملکی را به هیچ گروه نسبت ندادن، پرسش برانگیز عنوان کرده است. اعلامیه می‌افزاید که طالبان از قوانین بین‌المللی سرپیچی می‌نماید و آن بخش گزارش را مورد انتقاد قرار داده که در آن یوناما کاهش تلفات ملکی از جانب مخالفین مسلح نسبت به سال‌های گذشته ابراز داشته است.

در ادامه عکس العمل‌ها در رابطه به گزارش اخیر، شماری از فعالان جامعهٔ مدنی این گزارش را یکطرفه و بر ضد نیروهای افغان خواندند. ولی نیکولاس هایسم نمایندهٔ خاص سرمنشی سازمان ملل متحد در افغانستان در هنگام نشر این گزارش ادعا کرده بود که بخاطر جمع‌آوری ارقام از سیستم‌های پیشرفته استفاده کرده بودند و قبل از نشر، این گزارش را با گروه‌های درگیر شریک ساخته بودند.

از جانب دیگر، طالبان نیز این گزارش را یک‌جانبه خوانده و آنرا رد نموده است. ذبیح الله مجاهد سخنگوی طالبان در اعلامیه‌ای گفته است: «این گزارش یک‌جانبه، تبلیغاتی و به اشارهٔ نیروهای اشغالگر آماده شده است».

افغانستان

د اوبو له سترو زیرمو سره سره، د خوراکي توکو ستر واردونکی هېواد

اصلاح رسنیز گروپ/ نعمت الله عزیزي

افغانستان چې د اوبو گڼې سرچینې لري او د خورا ډېرو اوبو تولیدونکی هېواد دی، خو د نړدې څلورو لسېزو جگړو او کمزوري اقتصاد له امله نه دی توانیدلی چې له خپلو اوبو سمه گټه پورته کړي.

د سروې گانو له مخې په افغانستان کې په کلني ډول څه باندې ۷۰ ملیارد متر مکعبه اوبه تولیدېږي چې تر ۷۰ سلنه زیاته برخه یې پرته له دې چې افغانستان په خپله گټه ترې پورته کړي، گاونډیو هېوادونو ته بهېږي.

دا هېواد چې د کرهنیزو ځمکو تر څنگ گڼې هوارې دښتې او د سېمې په کچه خورا زیاتې اوبه لري خو بیا هم په سېمه کې د خوراکي توکو ستر واردونکی هېواد گڼل کېږي چې هر کال د خوراکي توکو لپاره څه باندې ۴ میلیارده ډالر پانگه نورو هېوادونو ته ورکوي.

همدارنگه د کال په ځینو موسمونو کې د سیلابونو راتگ هم په کلني ډول دې هېواد ته تر یو میلیارد ډالرو ډېر مالي زیانونه رسوي او زرگونه جریبه کرهنېزه ځمکه هم ویجاړوي.

اوس اوس د افغان حکومت مشران غواړي، د هېواد دا لویه پانگه مهار کړي او د هېواد په گټه یې و کاروي، افغان ولسمشر محمد اشرف غنی په وروستیو کې څرگنده کړې ده چې غواړي په روان ۲۰۱۶ زیږدیز کال کې د اوبو ۲۱ بندونه جوړ کړي.

افغانستان د خپلو شپږو گاونډیو هېوادونو له ډلې له پنځو هغو سره د اوبو شراکت لري چې له دې ډلې یوازې د ایران سره د هېواد د پخواني صدراعظم محمد موسی شفیق د صدارت په وخت کې د هلمند د سیند د اوبو پر سر تړون لاسلیک شوی او له نورو گاونډیو سره تر اوسه دا موضوع نده حل شوې .

پوښتنه دا راپورته کېږي په داسې حال کې چې له کلونو کلونو راهېسې ایران او پاکستان ته د افغانستان اوبه بهېږي، اوس به افغان حکومت څه ډول کولای شي دا اوبه مهار کړي؟ او په اوسني وضعیت کې افغانستان تر کومه کولای شي دا مسئله حل او د خپلو اوبو د مهار کولو لپاره اړین گامونه پورته کړي؟

او ولې په تېره یوه نیمه لسیزه کې چې افغانستان ته گڼې بهرني مرستې را ماتې وي په دې برخه کې بنسټېز کار ونشو؟ او څنگه کېدای شي دا مسئله په سم ډول حل شي او د گاونډیو سره د نورو ستونزو د زیږیدو لامل ونه گرځي؟ دا او څه نورې مهمې پوښتنې مو د کارپوهانو او شنونکو سره څېړلې دي چې لوستلو بلنه یې درکوو.

د اوبو مهار کول تر کومه عملي بڼه درلودلای شي؟

د علومو اکاډمۍ اړوند د سېمه ییزو څېړنو مرکز مشر رفیع الله نیازی د اصلاح رسنېز گروپ سره په خبرو کې د دې پوښتنې په ځواب کې چې په اوسني وضعیت کې د هېواد د اوبو مهارول، ترکومه عملي بڼه درلودلای شي؟ وویل: "دا چې د افغانستان د نا امنیو یو اړخ همدا اوبه دي چې گاونډیو هېوادونه ته بهېږي او د کمزوري اقتصاد او مرکزي حکومت نه شتون د دې لامل شول چې افغانان و نشي کړای، خپلې اوبه مهار او کنترول کړي."

د ښاغلي نیازي په اند، اوس په دې برخه کې کم تر کمه د ارادې پیدا کېدل هم د ستایلو وړ دي تر څو د روانو اوبو سم مدیریت وشي او د گاونډیو هېوادونو سره د اوبو مسئله د نړیوالو قوانینو په رڼا کې په مناسب ډول حل شي.

د سیمه ییزو څېړنو مرکز مشر په دې نظر دی چې په هغه هېوادونو کې چې تر منځ یې د اوبو په اړه ستونزې شتون ولري، نړیوال پانگونه نه کوي، خو که دا مسایل حل شي، نو بیا نړیوال بانک نور مرستندویه هېوادونه او هغه هېوادونه چې افغانستان ورسره تړونونه لري په دې برخه کې پانگونې ته زړه ښه کوي.

د اوبو د بندونو او کرهنیزو چارو کار پوه، انجنیر انعام صافی هم

څرګندوي چې په افغانستان کې د اوبو د بندونو له جوړولو نړیوال بانک هم ملاتړ کوي چې په دې اساس د افغان ولسمشر خبره چې په ۲۰۱٦ زیږدیز کال کې د اوبو ډېر بندونه ورغوي، نا ممکن نه دي او په دې برخه کې یې د اوبو او بریښنا وزارت ته دنده هم سپارلې ده.

خو نوموړي ټینګار کوي چې باید د هېوادونو تر منځ د اوبو د تقسیم موضوع ته له سیاسي لید لوري و نه کتل شي، بلکې په دې برخه کې د هېوادونو تر منځ تخنیکي خلک خبرې وکړي.

ښاغلی صافی باور لري چې کومې ستونزې چې د هند او پاکستان تر منځ د اوبو پر سر وې او حل شوې، افغانستان په هغه کچه د خپلو ګاونډیو سره ستونزې نه لري، خو انجنیر انعام ساپی په دې اند هم دی، چې تر ډېره دې موضوعاتو ته د سیاسي لید لوري کتل ستونزې را منځ ته کوي، چې په باور یې باید لومړی په دې برخه کې تخنیکي خلک خبرې وکړي بیا د هېوادونو رهبرانو ته وړاندې شي.

خو په عین حال کې، په ولسي ـ جرګه کې د مواصلاتو، مخابراتو، ښاري پراختیا، بریښنا، اوبو برابرولو او ښاروالي چارو کمیسون غړی حاجی علی محمد شهیدي وایي چې د حکومت په دې خبرو باندې باور نه لري او په خبره یې په تېر کې هم د اوبو د بندونو د رغولو خبرې ډېرې تکرار شوې دي چې عملي پایله یې نه درلودله.

نوموړی د افغان اوبو د مهار کولو او بندونو جوړولو لپاره امنیت ډېره اړین ګڼي او څرګندوي چې د بریښنا یوه ستنه چې نژدې په یوه میاشت کې نه رغول کېږي نو د اوبو بندونه به څنګه جوړ شي؟.

د ولسي ـ جرګې دا غړي همدارنګه زیاتوي چې په څو څو ځله یې په همدې هکله وزیران را غوښتي دي چې ولې د اوبو د مهارولو او ګټې پورته کولو په هکله عملي ګامونه نه پورته کوي خو په خبره یې دومره پاتې دي چې وزیران تر ګریوان را ونیسي.

نړیوالې مرستې خو د بنسټیزو پروژو نه عملي کېدل:

په تېر یوه نیمه لسېزه کې افغانستان ته ډېرې بهرنۍ مرستې راغلې، خو د نورو بنسټیزو پروژو تر څنګ د افغانستان د اوبو بندونه او زیرمې سمې جوړې نه شوې او له هغې اوس هم ګاونډیان ګټه پورته کوي، ولې د هېواد د اوبو د سم مدیریت لپاره اړین کارونه پورته نه شول؟

د سېمه ییزو څېړنو مرکز مشر ـ رفیع الله نیازي وایي چې افغانستان د څلورو لسېزو جګړو په جریان کې ډېر وران شوی وو، نو په تېره یوه نیمه لسېزه کې چې ګڼې مرستې دې هېواد ته راغلې که څه هم ډېرې پیسې یې د خلکو جیبونو ته لاړې، خو ځینې ودانېز او رغنیز کارونه هم تر سره شول.

خو د نوموړي په خبره اوس چې کوم جوړښتونه رامنځ ته شوي دي، باید نورې چارې تنظیم کړي او د افغانستان د اوبو موضوع مطرح کړي که نه د ښاغلي نیازي په اند ګاونډي هېوادونه خو دې ته خوشحال دي چې د افغانستان اوبه بې قیمته او بې کنټروله مصرف کړي.

د دې شنونکي په اند کله چې د اوبو مسئله حل شي افغانستان کولای شي د نورو هېوادونو نه د خپلو اوبو د مهار کولو او پر ځای لګولو لپاره اړینې مرستې لاسته راوړي او حتي کېدای شي د افغانستان سره په اوبو کې د شریکو هېوادونو سره په ګډه د انرژي د تولید لپاره له دې اوبو کار واخیستل شي چې ګټه به یې دواړه هېوادونو ته وي.

همدارنګه د اوبو د بندونو او کرهنیزو چارو کار پوه انجنیر انعام ساپی هم باور لري چې په تېر کې له یو اړخ نه په بنسټیزو برخو کې پانګونه ونشوله او له بل خوا افغانانو هم د اوبو د منابعو د تنظیم په برخه کې وړتیاوې نه درلودلې، خو د ښاغلي ساپی په اند، اوس مهال افغانان دا وړتیا لري چې د اوبو په برخه کې اړین کارونه ترسره کړي.

د ولسي ـ جرګې اړوند کمسیون غړی حاجي علی محمد شهیدي هم پدې باور دی چې بهرنیانو چې له افغانستان سره مرسته کوله دا هڅه یې هم کوله چې افغانان د اوبو د بندونو له رغولو لرې وساتي ځکه هغوي اندیښنه درلوده چې په سېمه کې نوې شخړې او جنجالونه را پورته نه کړي.

او د نوموړي په باور ګاونډي هېوادونه خو په هيڅ صورت نه غواړي د افغانستان اوبه هغوی ته کمې شي ځکه اوس مهال دې هېوادونو ته بې اندازې اوبه بهېږي او څوک يې مخنيوي هم نشي کولای.

ايران تر خپل حق ډېرې اوبه مصرف کړې دي:

افغانستان چې په وچه کې ايسار هېواد دی، د خپلو شپږو ګاونډيو، د پنځو هغو سره يې د اوبو شراکت لري چې لـه دې ډلې يوازې د ايران سره د هېواد د پخواني صـدراعظم محمد موسـی شـفيق په وخت کې د اوبو پر ويش تړون لاسـليک شـوی دی، پوښـتنه دا ده چې آيا ايران پـه ياد تړون کې د افغانسـتان طبيعي حق ته درناوی کړي او که نه؟

د علومو اکاډمۍ د سـيمه ييزو څېړنو مرکز مشرـ رفيع الله نيازی په دې باور دی چې د ايران سره چې د افغانسـتان د اوبو په هکله کوم تړون شـتون لري، ايران د خپل حق نه زياتې اوبه مصرف کړې دي او ماشينونه يې ورته لګولي دي.

د ښـاغلي نيـازي پـه وينا افغان لوری نه دی توانيدلی، چې له خپلو اوبو ګټـه پورتـه کړي چې بيا له همدې کمزورۍ نه ګاونډيو هېوادونو د افغانستان اوبه په خپله ګټه کارولې دي.

د اوبو د بنـدونو او کرهنيزو چـارو کـار پوه، انجنير انعـام صـافی هم څرګندوي، دا چې افغانان په خپلو اوبو باندې کنترول نه لري او ارقام نه ورته ثابتيږي چې ايران څومره اوبه مصرـف کړي نو ښـکاره خبره ده چې په داسې حال کې ايران تر خپل حق زياتې اوبه مصرف کړې دی.

د نوموړي د معلوماتو پر بنسټ، افغانستان مخکې له جنګ او جګړو نـه ۳،۵ ميليونه هکتاره کرهنيزه ځمکه د اوبو لګونې لاندې درلودله خو اوس مهال دا اندازه په خواشـينۍ سره دوه ميليونه هکتاره ته را ښکته شوې ده چې د جګړو په پايله کې شاړه پاتې شوې ده.

د ولسي- جرګې د اوبو برابرولو کمسيون غړی علی محمد شهيدي د ايران سره د اوبو پر سر تړون ته په اشارې سره وايي په هغه کې د هر چا حق معلوم دی، خو ايران هغـه تـه درنـاوی نه کوي او د خپل حق زياتې اوبه مصرفوي.

نوموړی ټينګار کوي چې که دا موضـوع همداسې پاتې شي نو ايران به نور هم د خپل حق نه زياتې اوبه مصرـف کړي خو افغان حکومت ته په کار ده چې په دې هکله غور وکړي.

د حل مناسبه لار:

پـه داسـې حـال کې چې شـنونکي بـاور لري چې راتلونکی نړيوال جنګ به د اوبو پر سر وي، د افغانسـتان د اوبو د مناسـب ويش لپاره څه حل لاره شتون لري تر څو نوي جنجالونه را پورته نه شي؟

د علومو اکاډمۍ د سـيمه ييزو څېړنو مرکز مشر رفيع الله نيازی باور لري چې د ايران سره د افغانسـتان د اوبو سـتونزه حل ده او په دې برخه کې بيا خبرې کول په کار نه دي، خو د هغه په اند د پاکسـتان سره په دې برخه کې هيڅ خبرې نه دي شـوې چې بايد مطرح شي او د اوبو د نړيوال قانون په رڼا کې دا مسئله حل ومومي.

ښـاغلی رفيع الله نيازی ټينګار کوي چې افغانان بايد نورو هېوادونه ته منتظر نه وي، بلکې بايد افغان حکومت د وړو بندونو د جوړولو نه پيل وکړي تر څو د دې بندونو د سم مديريت او عايداتو په پايله کې نورو بندونو رغولو ته لاره هواره شي او په لومړي قدم کې داخلي اوبه مـديريت او کنترول شي او بيا وروسـته د نړيوالو قوانينو په رڼا کې ګاونډيو هېوادونو ته تلونکې اوبه مهار کړل شي.

د اوبو د بنـدونو او کرهنيزو چـارو کـارپوه، انجنير انعـام سـاپی بيا څرګندوي چې دا يوازې افغانسـتان نه دی چې د ګاونډيو سره د اوبو پر سر سـتونزې لري بلکې ډېر نور هېوادونه هم شـته چې سـتونزې يې درلودلې او حل شوې دي.

نوموړی ټينګـار کوي چې د دې سـتونزې د حـل لپاره د اوبو نړيوال قـانون شـتون لري چې هغې تـه پـه مراجعې سره دا سـتونزه حـل کېدای شي خو د ښـاغلي سـاپي په اند لومړی بايد په دې برخه کې تخنيکي خلک خبرې وکړي او دې مسـئلې ته ډېر له سـياسي ليد لوري ونه کتل شي.

د ولسي جرګې د اړوند کمسيون غړی علي محمد شهيدي باور لري، چې ګـاونـډي هېوادونـه هيڅ کلـه نه غواړي چې په افغانسـتان کې بندونه ورغول شي او په هغه هېوادونو باندې اوبه کمې شي.

خو نوموړي د ولسيـ جرګې غړی د ملي يووالي حکومت نه نا هيلی ښـکاري او وايي چې: "فکر نـه کوم چې دا حکومت به خلکو ته دا ډول کارونه ترسره کړي." ځکه د هغه په وينا کابينه تر اوسـه بشـپړه شـوې نه ده او کوم وزيران چې شـتون لري، هغوی هم بې وړتيا او نـالايق اشـخاص دي، خو پـه دې برخـه کې د ولسيـ جرګې پـه استازيتوب خپله پړه هم مني.

زه مې د ماشوم په نوم یوه ونه کرم!

محمد مدثر اسلامي

تاسې کولای شئ د یوه بدلون لامل شئ. د خپل کور له چاپیریاله یې پیل کړئ. د کور د هر غړي په نوم یو نیالګی وکرئ او په مینه یې وپالئ. د دې څو ګټې دي:

د کور غړی به مو د ارزښت احساس وکړي او تاسې سره به یې مینه ډیره شي.

د کور او انګړ منظره به مو ښایسته شي.

بل به چاپیریال زرغون شي، فضا به ښکلې او هوا به صافه.

او له تاسې به نور ګاونډیان الهام واخلي او سیمه به ټوله ښیرازه شي چې همدا ستر بدلون دی.

متخصصین په دې باور دي، چې پلازمینه کابل او د هیواد نور لوی ښارونه د نړۍ له ډیرو ککړو ښارونو شمیرل کیږي. سروې ګانې ښیي، چې کابل کې هر کال شاوخوا ۳۰۰۰ تنه د ککړې هوا پورې اړونده ناروغیو له امله مري. د چاپیریال ساتنې ملي ادارې د معلوماتو له مخې د کابل ښار د روغتونونو نږدې ۸۰ سلنه ناروغان د هوا له ککړتیا څخه په رامنځ ته شوو ناروغیو اخته کیږي. د کابل په اړه دا هم مشهوره ده، چې له جګړې او چاودنو ډیر، خلک د هوا ککړتیا وژني.

د هوا د ککړتیا اصلي لاملونه د شنیلي کموالی، د سون ټیټ کیفیت لرونکي مواد (تیل، ګاز، لرګي، سکاره او نور) ډیر کارول او ناپاکو توکو (کثافاتو) شتون دي. د یو الهي نعمت په توګه د هوا ساتنه او له خرابیدو یې مخنیوی د مسلمان له دندو څخه ده. د ټولنې هم په وګړو پور دی، چې د ټولنې د عمومي روغتیا او خوندیتوب لپاره د هوا د ساتنې پوره خیال وساتي.

د ناپاکیو په کمولو او د سون باکیفیته موادو په تولید او تورید کې د وګړو په توګه زمونږ ونډه کمه ده؛ د خپل چاپیریال پاکي مو فرض جوړیږي. شنیلی عامول اسانه کار دی، زه، ته او هر څوک یې کولای شي. ونې او نیالګي مو د کور او سیمې چاپیریال ښکلی کوي. د هوا د ککړتیا مخه ډیره نیسي.

ونې ژوند ښکلی کوي. څیړنې ښیي، چې ونو او شنو سیمو ته نږدې وخت تیرول د انسان ستړس (ذهني فشار) کموي. د ماشومانو د ذهن په تیزوالي او د حافظې په پیاوړتیا کې مرسته کوي. شنیلی د ناروغانو په بیړه روغتیا کې هم ونډه لوبوي. د کورونو او ودانیو د منظرې د ښایست لپاره کاریدلای شي.

چاپیریال ته یې ګټې ګڼې دي. د ځمکې د سطحې تودوخه کموي. له هوا څخه د زیانمنو ګازونو د تصفیې له لارې د هوا پر کیفیت د پام وړ اغیز کوي. د انسانانو د اړتیا وړ اکسیجن تولیدوي او د سیلاوونو کچه کموي. د بیلا بیلو مارغانو او حیواناتو لپاره ګټور خواړه چمتو کوي.

دا ستر بدلون وړوکی پیل غواړي او اسانه. د هیواد په ګڼ شمیر سیمو کې د نیالګو کرلو موسم دی. زه او ته هم د کور، کورنۍ او هیواد د ښیرازتیا لپاره په کور او سیمه کې ونې او نیالګي وکرو. د دې چارې د عاملو لپاره نور خبر کړو او د خیر پدې کار کې یې له ځان سره ګډ کړو. وړوکی پیل به مو پراخه او اوږدمهاله بدلون ته لار هواره کړي.

متخصصین په دې باور دي، چې پلازمینه کابل او د هیواد نور لوی ښارونه د نړۍ له ډیرو ککړو ښارونو شمیرل کیږي. سروې ګانې ښیي، چې کابل کې هر کال شاوخوا ۳۰۰۰ تنه د ککړې هوا پورې اړونده ناروغیو له امله مري. د چاپیریال ساتنې ملي ادارې د معلوماتو له مخې د کابل ښار د روغتونونو نږدې ۸۰ سلنه ناروغان د هوا له ککړتیا څخه په رامنځ ته شوو ناروغیو اخته کیږي. د کابل په اړه دا هم مشهوره ده، چې له جګړې او چاودنو ډیر، خلک د هوا ککړتیا وژني.

د سولې څلور اړخیزې ناستې؛ د بریا فکتورونه او مخامخ خبرې

د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

د ۲۰۱٦ کال د فبروري په ۲۳مه د سولې د څلور اړخیزو خبرو اترو څلورمه غونډه په کابل کې جوړه شوه. له دې وړاندې د دې لړۍ له درېیمې ناستې وروسته داسې هیلې راوټوکېدې، چې د فبروري تر پایه به د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ مخامخ خبرې اترې پیل شي.

په بل اړخ کې څو ورځې وړاندې د پاکستان لومړی وزیر نوازشریف، قطر ته په یوه دوه‌ورځني سفر ولاړ او همدا راز د پاکستان په رسنیو کې داسې خبرونه هم خپاره شول، چې ګواکې د طالبانو د قطر دفتر مشر شیر محمد عباس ستانکزي او د دغه دفتر غړي قاري دین محمد حنیف د سولې د درېیمې څلور اړخیزې ناستې پر مهال اسلام‌آباد ته سفر کړی و. له همدې ځایه ده، چې په کابل او اسلام‌آباد کې یو شمېر خلک له طالبانو سره د مخامخ خبرو اترو د پیل په اړه هیله‌من برېښي.

دا چې په تېر میلادي کال کې د مري د خبرو اترو او اوسنیو څلور اړخیزو ناستو ترمنځ ښکاره توپیر څه دی، د څلور اړخیزو خبرو اترو د بریالیتوب فکتورونه کوم دي او آیا ریښتیا هم د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ مخامخ خبرې اترې پیلېدونکې دي؟ دلته پرې شننه کوو.

د مري له خبرو اترو تر څلور اړخیزو ناستو

که په یوه جمله کې د سولې په تړاو د اشرف غني هڅې بیان کړو، نو په اسلام‌آباد کې د مري له غونډې تر اوسنیو څلور اړخیزو خبرو اترو پورې بیانېدای شي. د مري خبرې اترې وروسته له هغه ترسره شوې، چې افغان ولسمشر پکې پاکستان ته امتیازات ورکړل او د سولې لپاره یې پر پاکستان تکیه زیاته کړه؛ خو د ملا محمد عمر د مرګ له اعلانېدو سره دغه پروسه شنډه شوه.

شپږ میاشتې وروسته، د نړیوالو او سیمه‌ییزو هېوادونو په هڅونه د څلور اړخیزو خبرو اترو تر چتر لاندې د افغان سولې په اړه بیا خبرې اترې پیل شوې. دغه خبرې اترې د مري له پروسې سره له دې کبله توپیر لري، چې دا ځل به د دواړو لوریو ژمنې دوه ځواکمن هېوادونه (امریکا او چین) تضمین کړي.

د څلور اړخیزو خبرو اترو لړۍ

د څلور اړخیزو خبرو اترو لومړنۍ ناسته د ۲۰۱۵ کال د ډسمبر په میاشت کې وشوه او د څلور اړخیزې همکارۍ ډله یې جوړه کړه، چې دوی بیا خپله لومړنۍ ناسته د جنورۍ په ۱۱مه په اسلام‌آباد کې، دویمه ناسته د جنورۍ په ۱۸مه په کابل کې او درېیمه ناسته د فبروري په ٦مه نېټه په اسلام‌آباد کې وکړه او څلورمه ناسته یې د فبروري په ۲۳مه بیا په کابل کې ترسره شوه.

د څلور اړخیزو خبرو اترو په لومړۍ ناسته کې ټولو خواوو د جګړې پر پای ته رسولو توافق وکړ او د ګډې اعلامیې له مخې یې د جګړې په اړه وویل، چې جګړه یوازې«بې‌معنا» تاوتریخوالی زېږوي. د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ پر مخامخ خبرو اترو ټینګار وشو او همدا راز د څلور اړخیزې ډلې د کاري شرایطو وضع کول یې بل مهم کار و.

د دویمې ناستې موخه تر ډېره له طالبانو سره د مخامخ خبرو اترو په اړه تګلاره جوړول وو. که څه هم تر اوسه پورې د دغې تګلارې په اړه تفصیلي معلومات نه دي شریک شوي.

د دې لړۍ په درېیمه ناسته کې، د څلور اړخیزې همکارۍ ډلې د سولې په اړه یوه تګلاره جوړه کړه، چې له مخې به یې افغان سوله د افغانانو په مشرۍ پرمخ ځي او د نورو هېوادونو رول به تر آسانچارۍ پورې محدود وي.

طالبان او څلور اړخیزې خبرې اترې

د څلور اړخیزو خبرو اترو له دوو غونډو وروسته، افغان طالبانو هم د پګواش په غونډه کې د سولې په تړاو خپل دریځ روښانه کړ او د سولې خبرې اترې یې له لاندې څلورو ټکو سره وتړلې:

۱. د طالبانو د قطر دفتر ته د کار کولو اجازه ورکول؛
۲. د بندیانو خوشې کول؛
۳. د طالبانو پر مشرانو د سفر بندیزونه لرې کول؛
٤. او د دوی پر ضد پروپاګند بندول.

که څه هم د پګواش په ناسته کې اشرف غني طالبانو ته د سولې د خبرو اترو شین څراغ ورکړ؛ خو لا تر اوسه کابل له افغان طالبانو سره د مخامخ خبرو اترو په لوري ګام نه دی اخېستی.

دا چې له افغان طالبانو سره به دغه مخامخ خبرې اترې چېرته کېږي، مهمه موضوع ده. داسې بریښي چې افغان طالبان به په افغانستان او پاکستان کې دا ډول خبرو ته زړه ښه نه کړي. که په چین کې دا ډول خبرې کېږي نو دلته بیا پر طالبانو د سفر د بندیزونو خبره راځي، چې باید افغان حکومت او امریکا ورته پاملرنه وکړي. البته په قطر کې هم په دا ډول خبرو اترو فکر کېدای شي؛ خو په دې اړه داسې احتمال هم شته دی، چې هلته به بیا افغان حکومت زړه ښه نه کړي.

افغان طالبان هغه مهال مخامخ خبرو اترو ته حاضرېدای شي چې د څلور اړخیزو همکاریو ډله، د خبرو اترو لپاره مخامخ د طالبانو د قطر له دفتر سره په تماس کې شي. که څه هم له طالبانو سره د خبرو اترو لپاره ځای نه دی غوره شوی؛ خو که د قطر دفتر استازي په دغو خبرو کې ګډون کوي نو قوي احتمال به دا وي، چې دا خبرې په قطر کې وشي او یا هم له پاکستان او افغانستان پرته په کوم بل ځای کې. طالبانو ته به په بل ځای کې د خبرو اترو ګټه دا وي، چې له خپلو مشرانو به یې د سفر بندیزونه لرې کړي وي.

د څلور اړخیزو خبرو اترو د بریالیتوب فکتورونه

د څلور اړخیزو خبرو اترو بریالیتوب په ټولیز ډول په لاندې مهمو ټکو راڅرخي:

- **د طالبانو د استازیتوب قضیه:** د څلور اړخیزو خبرو اترو د بریالیتوب تر ټولو غټ ټکی دا دی، چې له افغان حکومت سره د طالبانو کوم استازي خبرو اترو ته حاضریږي، باید په ریښتینې ډول د طالبانو استازیتوب وکړای شي. که چېرې په دغو خبرو اترو کې د طالبانو د قطر دفتر استازي او د رهبرۍ شورا هغه غړي ونډه وانخلي، چې د پریکړو صلاحیت لري او یا هم په سمه توګه د ملا اختر محمد منصور ډله پکې برخه وانخلي، نو د دغو خبرو اترو پایلې به هم د هغو خبرو اترو په څېر شي، چې د حامد کرزي په دوره کې له مختلفو لوریو سره وشوې. د اوسنیو ځمکنیو حقایقو له مخې، د طالبانو همدا ډله تر ټولو ځواکمنه او په ټوله کې د ټول تحریک (طالبانو) استازیتوب کولای شي.
- **تر زور لاندې نه وي:** دویم مهم فکتور دا دی، چې د سولې دغه خبرې اترې باید د فشارونو او زور تر چتر لاندې ترسره نه شي؛ ځکه تر زور لاندې خبرې اترې موقتي ګټې لرلی شي؛ خو په اوږدمهال کې ګټورې نشي ثابتېدای. که څه هم د مري په خبرو اترو کې د طالبانو لوړپوړو چارواکو برخه واخیسته؛ خو پایلې یې ګټورې نه وې او له کبله یې په هېواد کې جګړه نوره هم توده شوه او د کندز ښار پکې سقوط وکړ. غټ لامل یې دا و، چې دغه خبرې اترې د زور له کبله او خپله د افغان طالبانو په اند د«چل» له مخې وې.
- **موخه د طالبانو وېشل نه وي:** که چیرې د څلور اړخیزو خبرو اترو موخه یوازې دا وي، چې له هغه چا سره چې خبرو اترو ته حاضرېږي، خبرې وشي؛ په حکومت کې جذب کړای شي او په دې توګه د طالبانو پاتې ډلې وځپل شي او یا یوازې پاتې شي، نو دغه تګلاره هم موقتي ګټې لري؛ ځکه په تېرو ۱۵ کلونو کې افغان حکومت دغه تګلاره څو ځله عملي کړې، چې تر اوسه یې تر ډېره ښه ثمره نه ده لرلې.
- **د نورو له ګټو څخه زیاتې افغاني ګټې پکې خوندي شي:** په دغو خبرو اترو کې درې بهرني هېوادونه هم دخیل دي او افغان لوري پکې طالبان او افغان حکومت دي. که چیرې په دغو خبرو اترو کې د افغانانو په پرتله د نورو لورو ګټې ډېرې خوندي شي، نو دا به هم یوه اوږدمهاله سوله په منفي ډول اغېزمنه کړي.
- **ټول دخیل لوري پکې ګټیالي شي:** د څلور اړخیزو خبرو اترو بریالیتوب په دې کې دی، چې ټول دخیل لوري پکې ځانونه ګټیالي وبولي؛ یو لوری هم پکې ځان داسې ونه ګڼي، چې په خبرو اترو کې بایلونکی دی.

هفته نامه
بجز اصلاح اراده دیگری ندارم
اصلاح ملی
داسلام داصیل فهم منبر

- اصلاح ملی در ویرایش مطالب دست باز دارد.
- مطالب آمده مسترد نمی شود.
- مطالب منتشره بیانگر آرای نویسنده گان است.

شعارما

اصلاح فرد، خانواده و جامعه.
تأمین عدالت اجتماعی و قانونیت درکشور.
ترقی و انکشاف همه جانبهء افغانستان.

د کاموي سیاحتي او زیارتي شرکت
د عمرې خدمتونه

خرید خانه، زمین و اپارتمان در **ترکیه**

۱ – د عمرې ویزه.
۲ – د تګ راتګ ټکټ او مستریح سفر.
۳ – د حرمینو شریفینو سره نږدې او په ښو خدمتونو سمبال استوګن ځای.
۴ – ستاسې په ژبه د عمرې مکمل لارښوونه.
۵ – د مقدسو ځایونو د لیدلو آسانتیاوې.

همدارنګه د هر ایرلاین ارزان ټکټونه د نړۍ ټولو هېوادونو ته زمونږ نه ترلاسه کړئ

TURKISH AIRLINES, QATAR AIRWAYS, Emirates, ETIHAD, AIR INDIA, ARIANA, Kam Air, Safi AIRWAYS, طیران الخلیج Gulf Air

داؤدزئی بزنس سنټر، دوهم منزل L-1 دکان نمبر 258 گلبهار سنټر ته مخامخ د وزارت خارجه ترڅنګ

0777390819, 0781390819, 0780207210

الی 30٪ تخفیف

SALAM UNIVERSITY
پوهنتون سلام ۱۳۸۸ هـ ش

پوهنتون سلام

در مقاطع **لیسانس** و **ماستری** محصل میپذیرد.

انجینیری
1.ساختمانی
2.شهرسازی
3.برق

حقوق و علوم سیاسی
1.قضاء و څارنوالی
2.علوم سیاسی

اقتصاد
1.اداره و تجارت
2.اقتصاد

کمپیوتر ساینس
1.BCS
2.IT

شرعیات
1.فقه و قانون
2.تعلیمات اسلامی

ماستری در شرعیات
1.فقه و قانون
2.تفسیر و حدیث

0778150150 - 0788275275
www.SALAM.edu.af

104.3 FM
رادیو صدای اصلاح

کابل | مزارشریف | کندز | بغلان | جلال اباد

اعلانات شما را می پذیریم

هفته نامه اصلاح ملی
در ۲۸ ولایات کشور به تیراژبلند توزیع می گردد
اصلاح انلاین
پر بیننده ترین صفحه انترنتی افغانی
www.eslahonline.net

رادیو صدای اصلاح 104.3 FM
با ۱۶ ساعت نشرات در شب و روز
شماره تماس:0780201435